خراسان غږ

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

خراســان غــږ پنځلس ورځنۍ مجلــه | العزائــم خپرندویه اداره یي وړاندې کوي

مشر قاضي یې فیصله طاغوت ته وړي

د نړیوالو قوانینو هر بند د اسلامي اساساتو سره په ټکر کې دی؛ مدني، جنایي، اقتصادي، فرهنګي او د ژوند په نورو چارو کې یې وضع شوي قوانین د اسلام سره پوره تضاد لري. خو طالبان بیا هم د دغه قوانینو درناوی...

اقصا د امت قضیه؛ که سوداګري او شخصي ګټې

دا دی پېړۍ وروسته یو ځل بیا د القدس په ګډون ټوله اسلامي نړۍ د (صلیبي، یهودي، رافضي) مثلث تر اشغال لاندې ده، او اسلامي امت د ذلت داسې حالت ته رسیدلی چې د خلاصون لپاره همدې مثلث ته د نجات چیغې وهي، ځینې د امت په ګټو کې شخصي ګټې ګوري او ځینې بیا دومره حد پورې سپین سترګي دي چې پر امت روانې ناخوالې یې خپله سوداګري ګرځولې او درګرده پرې تجارت کوي...

خراسان د مرتدینو مقبره

تېره میاشت د اسلامي دولت مجاهدینو په باجوړ، کونړ، بغلان او کابل کې پر موجوده طواغیتو لږ تر لږه 10 اتلوال بریدونه تر سره کړي دي چې پکې له 160 پورته روافضو، طالب ملېشو، جواسیسو او نورو مرتدینو...

له اسلامي خاورې څخه به څوک دفاع وکړي؟

عجیبه نده؟ نن سبا د محکومیت او د کفارو د اشغال او وحشت څخه د اسلامي نړۍ د خلاصون لپاره صرف د څو کسانو د اوښکو له تویولو او د غم او درد د اشعارو او شعارونو له ویلو او ورکولو پرته بل کوم دروند عکس العمل نه لیدل کیږي ولې؟...

د محمدي امت کریغې او د مرتدو حکامو خیانت

راشئ او د هغه صف سره ودریږئ چې نه د امریکا لحاظ کوي او نه د اسرائیل نه د روس فرمایشات مني او نه د چېن بلکې د ځمکې پر مخ د جمله کفارو او مرتدیــنو په خلاف د نبوي او قراني منهج په أصــولو برابر جهاد یې شروع کړی او په امت یې د یو بیرغ یو امام او یو جماعت څخه لاندې د راټولیدو اواز کړی...

فلسطین د مسلمانانو عقیدوي قضیه ده :

د فلسطین قضیه نه یواځې د فلسطنیانو مسئله ده چې په تړاو به یې همغوی مبارزه کوي، بلکې دا د مسلمانانو یوه عقیدوي قضیه ده چې نن د سکولریزم په جال کې راګیر مرتدین ورڅخه په یوه او بله بهانه ځان شاته کوي او دا د فلسطنیانو داخلي او کورنی...

د سنګر او دفتر زلمی

مجاهدین ورونه به د الله او د رسول هر حکم ته لبیک وایي او د هر قسم مخالفت څخه به یې ځان په کلکه ساتي، مجاهد به په خپل ژوند او زندګی، خپلو عباداتو کې د الله او رسول الله پوره تابع وي ، ناسته ولاړه، لباس او جامه به یې د...

27 ګڼه

شنبه 11 | جمادی الاولی 1445هـ

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي

سرلیک

خراسان غږ مجله ۲۷ مه ګڼه جمادی الاولی ۱۴۴۵ هـ

- سرمقاله:
  - مشر قاضي یې فیصله طاغوت ته وړي 03
- سیاسي برخه:
  - اقصا د امت قضیه 10
  - د محمدي امت کړیغې او د مرتدو حکامو خیانت 18
  - فلسطین د مسلمانانو عقیدوي قضیه ده 31
- دیني برخه:
  - د نصرت او تمکین اسباب 40
- تاریخي برخه:
  - له اسلامي خاورې څخه به څوک دفاع وکړي؟ 48
- راپور برخه:
  - خراسان د مرتدینو مقبره 57
- لنډه کیسه:
  - د سنګر او دفتر زلمی 60

مشر قاضي
يې فيصله طاغوت ته وړي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله معز المؤمنين ومذل الكافرين والمنافقين والصلاة والسلام على من بعث بالسيف رحمة للعالمين أما بعد: فقد قال الله عزوجل:إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا.

الله عز وجل وخت په وخت په مومنانو امتحانات راوستي دي چې په دې سره يې رښتوني مؤمنان د منافقانو ډلې جدا کړي دي او د منافقانو اصلي څېره يې بربنډه کړې ده، نو دا دی اوس هم دغه شان وشول د فلسطين په مظلومو بې دفاع مسلمانانو د يهودو لخوا څخه نه توجيه کېدونکي جنايتونه شروع دي، د هغوی زنانه، ماشومان، سپين ږيري او ځوانان د اور په لمبو کې کباب کيږي، سپين فاسفورس بمونه پرې راوريږي او يهود او نصارا يې له ډله ييزي وژنې، د هغوی له فريادونو، ژړاګانو، چغو او نارو څخه خوند اخلي، خو بل طرف ته اسلام ته منسوب حاکمان چې ځينې په کې ځانونو ته د نړۍ ستر فاتحين، مجاهدين او صليبيانو ته ماتې ورکوونکي اتلان هم وايي!، لکه د افغانستان طالب مليشې؛ د تماشه کوونکو لاره يې غوره کړې او سره له دومره قوتونو او مليشو يواځې په ځينو څرګندونو يا لاريونونو بسنه کوي او دا يو غټ جهاد بولي، نو په همدې اساس په راروانو کرښو کې غواړم چې د يهودو د ظلمونو په هکله د طالبانو عملي کردار ته لنډه کتنه وکړو او د اسلامي امت سره يې خيانت واضح کړو، ان شاء الله.

دا چې له کومې ورځې پر فلسطين سخته بمباري شروع شوې د افغانستان طالب چارواکو يې په مقابل کې ځينې عکس العملونو ته دوام ورکړی چې په دې نږدې ورځو کې يې يعنې په ۲۴ د ربيع الثاني /۱۴۴۵هـ ق. کې يې د سترې محکمې قاضي القضاة يا رئيس "عبد الحکيم حقاني" له خوا يوه اعلاميه خپره شوه چې په دغه اعلاميه کې يې د فلسطين په مسلمانانو د روانو ظلمونو او وحشتونو د مخنيوي په پار له نړيوالو کفارو او مرتدو رژيمونو څخه په ځانګړې توګه له نړيوالې طاغوتي محکمې څخه ځينې غوښتنې کړې دي او هم يې د مسلمانانو د غولونې په پار ځينې څرګندونې کړې دي چې مهم ټکي يې په دې ډول دي: "د نړيوالو قوانينو خلاف"، "له بشري حقونو سرغړونه"، "مونږ يې په کلکو ټکو غندو"، "د فلسطين د مظلوم ولس څخه خپل ملاتړ اعلانول"، "هغوی ته دعاګانې او تسليت ورانديې کول"، او "له اسلامي هيوادونو څخه دا غوښتنه چې په دې ستر امتحان کې بې تفاوته پاتې نشي"، او په اخر کې "له نړيوالې محکمې څخه يې د عاجل اقدام غوښتنه کړې ده"،

دافغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست
۱۴۴۵/۴/۲۱

پر فلسطين باندې د صهيونيستي اسرائيلو د هوايي او ځمکنيو وحشيانه بريدونو او ظلمونو په اړه د سترې محکمې اعلاميه

له څه وخت راهيسې د فلسطين پر مظلومو مسلمانانو د صهيونيستي غاصبو اسرائيلو لخوا په ډېره بې رحمۍ هوايي او ځمکني بريدونه روان دي، چې له امله يې زرګونه فلسطيني ښځې، ماشومان او لويان په شهادت رسېدلي، زيات شمېر يې ټپيان دي، روغتونونه، جوماتونه او کورونه يې نړېدلي دي.
پر دې سربېره صهيونيستي غاصبو اسرائيلو د نړيوالو قوانينو خلاف د غزې په اوسېدونکو هر ډول لومړني خوراکي توکي، اوبه، درمل، برېښنا او د ژوند نور ضرورتونه قطعه کړي، چې دغه کار د غزې او نورو سيمو مظلوم مسلمانان له ډېرو سختو مشکلاتو سره مخ کړي دي.
د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه د صهيونيستي غاصبو اسرائيلو دغه کړنه په ټر ټولو شديدو ټکو غندي ځکه د دوی دغه کړنې په بشپړ ډول وحشت او له بشري حقونو سرغړونه ده.
د اسرائيلو په هوايي او ځمکنيو بريدونو کې فلسطيني شهيدانو ته د الله (جل جلاله) له سپېڅلي درباره د فردوس جنت، ټپيانو ته د عاجلې او کاملې روغتيا غوښتنه کوي او کورنيو ته يې د تسليت مراتب وړاندې کوي.
دغه راز د فلسطين له مظلوم ولس څخه ملاتړ اعلانوي او له ټولو اسلامي هيوادونو څخه غواړي چې د مظلومو فلسطينيانو لاس نيوی وکړي او په دې ستر الهي امتحان کې بې تفاوته پاته نشي، په دې سربېره نړيواله محکمه بايد د دغه جرمونو په برخه کې عاجل او جدي اقدام ترسره کړي.

په درنښت
شيخ عبدالحکيم (حقاني)
د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات

Superme Court of Afghanistan   Supermecourt.gov.af   @supremeCourt_af

اوس د دغو ټکو لږ وضاحت ته ستاسو پام را ګرځوو:

دا چې دوی په وار، وار دا خبره کوي چې دا کارونه د نړيوالو قوانينو خلاف او له بشري حقونو سرغړونه ده او کله يې د لاريون والاو ته هم دغه شعارونه په لاس کې ورکړي وي، دا نړيوال قوانين څه ته وايي او دغه بشري حقونه څه ته وايي چې دوی يې دومره درناوی کوي آن تردې چې يهوديان او صليبيان پرې هم پړ بولي؟

دا يو ځرګند حقيقت دی چې نړيوال قوانين عبارت دي له هغو قوانينو څخه چې جهاد ته په کې ترهګري او افراطيت ويل شوی دی، د اسلامي احکامو پلي کول په کې ستر جنايت بلل شوی دی، او د يهودو او نصاراوو له خوا وضع شوي قوانينو خلاف کول په کې لوی جرم ګڼل شوی، او همدا راز هر بند يې د اسلامي اساساتو سره په ټکر کې دی؛ مدني، جنايي، اقتصادي، فرهنګي او د ژوند په نورو چارو کې يې وضع شوي قوانين د اسلام سره پوره تضاد لري چې په دې اړه يې قوانين کتلای شئ. خو طالبان بيا هم د دغه قوانينو درناوی کوي او له کفارو څخه هم غواړي چې د دغه قوانينو لحاظ وساتي؛ دا په دې دليل دی چې دوی دغه قانون ته ډير وفادار دي، نو ځکه خو په کفارو د دغه قانون د لحاظ ساتلو ټينګار کوي، مونږ دا منو چې نن مسلمانان د کفارو له خوا محکوم او له ډول، ډول ظلمونو سره مخ دي چې روښانه مثالونه يې د فلسطين او د ايغور (شرقي ترکستان) مسلمانان دي، خو دغه ظلمونه پرځای د دې چې د اسلامي احکامو په رڼا کې وارزول شي او په مقابل کې يې يو شرعي غبرګون وښودل شي؛ دوی يې د نړيوالو قوانينو په رڼا کې ارزوي چې دا د دې خبرې ښکارندوی کوي چې د دوی په نزد د حق او عدل معيار همدغه نړيوال کفري قوانين دي نو ځکه خو يې له مخې د ظلمونو د مخنيوي غوښتنه هم کوي. خو مونږ وايو چې دغه مظلوم مسلمانان خو نن له همدې نړيوالو وحشي قوانينو له مخې د ترهګرۍ په نوم قربانيږي نو تاسو د کوم نړيوال قانون څخه د عدالت غوښتونکي ياست، د دغه قانون جوړونکي خو د مسلمان وژنه عدالت بولي، تاسو ترې کوم ډول عدالت غواړئ؟ که د بشري حقونو په سرغړونه يې پړ بولئ او همدغه عدالت ګڼئ نو دا خو لويه ګمراهي ده چې تاسو په کې اخته ياست ځکه د بشري حقونو په نوم چې کوم قوانين کفارو وضع کړي دي د اسلام د اساساتو سره ټکر لري؛ جهاد په کې لغوه شوی، شرعي حدود، د زنانه او نارينه ترمنځ فرقونه په کې لغوه شوي، د ولاء او براء عقيده په کې له منځه تللې او همدا راز نور ډير خلاف شرعه کارونه په کې روا شوي دي، نو دغه قانون د حق معيار ګڼل او په سرغړونه يې خلک رانيول خو د مسلمان طريقه نه ده ځکه مسلمانانو ته خو الله تعالى سپيڅلی قانون رالیږلی چې د ټولې نړۍ خلکو لپاره ترټولو ښه لارښود دی او د ژوند ټولې چارې په کې په ښايسته طريقه حل دي، هر چا ته يې خپل حق ورکړی او ټول خلک يې د هغې په تابعداری مکلف کړي دي، نو له دې وروسته بيا څنګه د هغو قوانينو په لحاظ ساتلو ټينګار وشي کوم چې جاهلي دي او د يهودو او نصاراوو له خواهشاتو څخه جوړ شوي دي، داسې خلک په ښکاره توګه د دې ايت مصداق دي چې الله عز وجل فرمايي: **أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ** [سُورَةُ المَائدة : 50]

ژباړه: (که دوی د الله تعالی له قانون څخه مخ اړوي) نو ايا بيا د جاهليت فيصله غواړي؟ په داسې حال کې کوم خلک چې پر الله باور لري، د هغو په نزد له الله څخه بل غوره فيصله کوونکی هيڅ نشته.

هو! دوی د جاهليت قانون د الله تعالی په قانون باندې له پاسه ګڼي نو ځکه خو يې په اعلاميو کې د ”نړيوال قوانين“ او د ”بشري حقونو“ الفاظ ډير تکرار شوي دي. او هر چې ”غندنه“ ده نو دا هم د کفارو په خلاف د مسلح پاڅون پرځای يو انتخاب شوی ټکی دی چې د غرب له لوري دغو ګوډاګي حاکمانو ته د هغوی د ظلمونو په مقابل کې توصيه شوی دی چې اوس پرې دوی د قتال پرځای خپله تنده ماتوي او مسلمانانو سره پرې خپله خواخوږي ښايي. دا يو داسې ټکی دی چې مسلمانانو ته يې هيڅ وخت هيڅ ګټه نه ده ورکړې، بلکې مونږ وينو چې په داسې ټکو سره کفار نور هم په غرور او جذبه کې راځي او خپل ظلمونه زياتوي. خو بيا هم چې دغه ګوډاګيان د دوی ظلمونه غندي آيا په غندلو سره به يې مسوليت ادا شي؟ نا هيڅکله نه، ځکه چې غندنه خو د هغه چا کار دی چې هيڅ وس او توان نه لري دوی خو داسې نه دي بلکې له دوی سره خو ډيرې لښکرې، ځمکنۍ او هوايي قواوې شتون لري نو څنګه به دوی په غندنه

معاف شي، که د سلفو تاریخ ته کتنه وشي نو هغوی هیڅکله هم د کفارو د ظلمونو جواب په غندنې سره نه دی کړی، بلکې د هغوی په مقابل کې یې عملي ګامونه اخستي او یوازې د یوې زنانه د فریاد له امله یې د کفارو پوره دولتونه نسکور کړي دي، خو نن چې د فلسطین زنانه او ماشومان د کفارو له خوا د بمونو په اورونو کې سوځي طالبان یې غندي او دا له امت مسلمه سره یوه لویه وفاداري ګڼي، عجیبه خبره ده، د جهاد احکام څه شول، د مسلمانانو سره موالات څه شول، د مظلوم مدد څه شو، آیا غندنه د دې هر څه بدیل شوه؟ مونږ د طالب مشرکانو نه پوښتنه کوو چې ستاسو او د اصلي کافرو ترمنځ څه فرق شو چې هغوی یې هم غندي او تاسو یې هم غندئ، د هغوی په هیوادونو کې هم جذبې په لاریونونو، زنده باد او مرده باد نارو سرېږي او ستاسو په هیواد کې هم لاریونونه او چغې نارې پورته کیږي خو په عمل کې مو هیڅ نه لیدل کیږي، دا ټول ډیموکراتیک اساسات دي چې تاسو عملي کړي دي، اسلام کې دغه رمباړې او غندنې ځای نه لري، د شرم له پاسه شرم خو دا دی چې دا خبره هم ورسره زیاتوي او وایې: چې مونږ د فلسطین د مظلوم ولس سره خپل ملاتړ اعلانوو(!)

تاسو ورسره ملاتړ په څه طریقه کوئ ایا په همدغه غندنو، بین الملل ته په رمباړو، سوالونو، زاریو او هغوی ته په وار، وار د خپل قانون په رعایت وریادولو سره؟!! لږ خو مو د صلیبي بادارانو څخه هم شرم وکړئ هغه چې تاسو ته هفته وارې د ډالرو کڅوړې رالیږي، هغوی سم د مخه د اسرائیلو بشپړ ملاتړ اعلان کړ او د امریکا رئیس سره له خپلو وزیرانو تر تل ابیب ورسید او هلته یې د نظامي مشورې مشري وکړه، هم یې ډرونونه په غزه ګرځي.

او د جنګ مشري یې په غاړه اخیستې، که تاسو ورسره ریښتیا هم صلح کړي وي او تسلیمي نه وي نو صلح خو مو دړې وړې شوه نور د څه شي انتظار کوئ؟ خو د دغه هومره ملیشو او قوت لرلو سره بیا هم د عملي ګامونو اخیستلو پرځای د فلسطین مسلمانانو سره تش په خوله ملاتړ اعلانول او ځان ورسره په غم کې شریک ګڼل؛ دا د هغوی په سترګو کې شګې اچول او هغوی پورې خندا کول دي، که په شرعي اصطلاح د مظلوم مدد، ملاتړ او دفاع نه پیژنئ نو د صلیبیانو ملاتړ ته خو لږ اوګورئ د هغوی نه خو عبرت واخلئ، خو دا تاسو ځکه نشئ کولی چې ستاسو خولې د ډالري کڅور څخه ډکې دي بیا یې دربانديي بندوي نو ځکه

خو په خبرو او اعلاميو کې له ډېر احتياط څخه کار اخلئ او هغه الفاظ کاروئ چې هغوی ته پرې کوم زور نه رسيږي، تاسو خو نران شئ د دوی د دريځ خلاف يوه خبره خو وکړئ چې دغه د نصوارو خولې درباندې ماتوي او که نه، هغوی سره د خپل کفر اهميت شته خو تاسې مرتد ياست، تاسې ته د اسلام څه اهميت دی، خو بل لوري ته د کفارو په وړاندې دغه ټولو سرټيټيو، بيغيرتيو سره په دعاګانو خلکو ته دوکه ورکوئ چې مونږ خو سم بزرګان يو دعاګانې درته کوو! آيا تاسې د خپلو دعاګانو نه خبر ياست دعا خو يو عبادت دی چې د قبليدو لپاره يې مهم شرط ايمان دی او تاسې خو د اسلام په لسګونو نواقضو درلودلو سره له ايمان څخه کنګال شوي ياست نو د دعا د قبليدو به مو څه طمع وشي، مخکې د خپل اسلام غم وکړئ د خپل شرک، ارتداد او د اسلام له نواقضو څخه توبه وکړئ بيا دعاګانې وغواړئ.

او بيا يې په دغه اعلاميه کې په داسې حال کې د اسلامي هيوادونو په حاکمانو د فلسطين مظلوم ولس د لاس نيوي غږ کړی چې پخپله يې د تماشګيرو او د ژړيدونکو لاره غوره کړې، خو مونږ وايو چې د دغه اسلامي هيوادونو حاکمان خو ستاسو په څېر د يهودو او نصاراو ګوډاګيان او د اسرائيلو ديوالونه دي په ډيموکراسۍ، وطنيت، قوميت يې ايمان راوړی، د همدغه اسرايلو په تحالف کې واقع دي، ابراهيمي صلحې ورسره کړې دي، نو لکه څنګه چې تاسو خپله جالي صلح چې په حقيقت کې تسليمي ده د حديبيې له صلحې سره پرتله کوئ او په خلاف يې هيڅ عملي غبرګون نه شئ ښودلی؛ هغوی هم د کفارو سره خپلې کړې ژمنې او صلحې د حديبيې د صلح سره پرتله کوي له هغوی به څه تمه وشي، هغوی خو دومره هم نه شي کولی چې د دغو مظلومو بې وسه مسلمانانو په مخ د امريکا له اجازې پرته د خپلو هيوادونو پولې خلاصې کړي او د دغه اور نه ورته پناه ورکړي نوره عملي مرسته خو ډېره لرې خبره ده، او بيا يې د اعلاميې په اخر کې د خپلو ژړاګانو، سرټيټيو، لاريونونو او غندونو هدف په يوه خبره کې نچوړ کړی دی او هغه دا چې د فلسطين مسئله يې نړيوالې کفري محکمې ته وړاندې کړې او د عاجل اقدام غوښتنه يې ترې کړې!

او همدا زما د بحث مهم ټکی دی غواړم چې مسلمانان يې له خطر څخه خبر کړم، ان شاء الله.

الله عزوجل مونږ ته د يهودو او نصاراو په اړه داسې امر کړی چې کله دوی تاسې ته کومه داخلي يا خارجي شخړه راوړي نو د الله تعالی په قانون ورله فيصله وکړئ لکه الله عزوجل فرمايلي دي: **وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ** [سُورَةُ المَائدة : 49]، ژباړه: نو [ای محمده (صلی الله عليه وسلم)!] ته د الله له نازل کړي قانون سره سمه د دې خلکو د چارو فيصله وکړه، او د هغو د خواهشاتو پيروي مه کوه. پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وانه چوي، يوه ذره قدري دي هم له هغه هدايت څخه وا نه ړوي چې الله تا ته درليږلی دی. نو په دې ايت کې اول محمد صلی الله عليه وسلم ته خطاب دی او بيا يې امت ته دی چې دوی خو به په خپل منځ کې خامخا د الله په کتاب فيصلې کوي خو که يهود او نصارا ورته کومه مسئله راوړه نو هم به يې د الله په قانون فيصله کوي، خو نن د هغو خلکو په حال افسوس دی چې يو لوري ته ځانونه بزرګان او د اسلامي امت رهبران بولي خو بل لوري ته بيا د يهودو او نصاراو په محکمه دومره باوري دي چې د مسجد اقصی او د اسلامي خاورې فيصله هم هغوی ته حواله کوي او د عدالت تمه ترې لري، دا کوم عقل منې چې يو لوري ته يهود او نصارا د فلسطين په مظلومو مسلمانانو بمبارونه کوي او بل لوري ته دې بيا ځان ته پړ او ملامت هم ووايي دا به ډېر حماقت نه وي؟

طالب ته وايو!

دا تاسې چې يې د فلسطين په مسئله کې قاضيان ګڼئ دا خو په حقيقت کې مدّعيان دي نو مدّعي ته څنګه د فيصلې واک ورکوئ، دا خو د عقل او نقل خلاف خبره ده چې په دې خبره خو يو ساده شپون هم پوهيږي پاتې خو لا عقلمند خلک، خو له تاسو څه ګيله! ډالري کڅورو درنه عقلونه وړي دي او ماغزو

مو کار پرېښی دی، بل دا چې آیا تاسو ته د خپل دغه وړاندیز خطر معلوم دی چې کوم ځای ته پرې رسیدلي یاست، رئیس صیب(!) مو سره له دغه هومره علم چې دعوه یې لري پرځای د دې چې نړیوال کفار د الله تعالی عدالت ته راکش کړي او د ظلمونو حساب ورسره وکړي؛ د هغوی له کفري محکمې څخه د عدالت غوښتونکی دی، د داسې خلکو په اړه د الله عزوجل حکم واورئ چې فرمایلي یې دي: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَ مَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَ قَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ ۖ وَ يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا [سورة النساء:60]، ژباړه: (ای پیغمبره صلی الله علیه وسلم!) ایا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې: مونږ پر هغې کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي ول ایمان راوړی دی؟ - خو غواړي چې خپلې چارې د فیصلې لپاره د طاغوت (شیطان) لوري ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت څخه د منکرېدو حکم شوی ؤ. شیطان غواړي هغوی وغولوي او له سمې لارې څخه یې ډېر لرې وباسي.

د ایت لنډ وضاحت: دا ایت په اصل کې د یوه یهودي او منافق په اړه نازل شوی و چې ترمنځ یې شخړه پیدا شوې وه یهودي غوښتل چې محمد صلی الله وسلم ته فیصله یوسي خو منافق غوښتل چې کعب بن اشرف یهودي ته فیصله یوسي چې بیا یې په اړه دغه ایت نازل شو، نو په ایت کې د هغه چا ایمان ته د "زعم" یعني "د ایمان دروغجنه دعوه" لفظ کارول شوی چې یواځې طاغوتي محکمې ته د فیصلې وړلو اراده لري پرته له عمل نه، نو د هغه چا به څه حال وي چې نړیوالي طاغوتي، یهودي، صلیبي محکمې ته د اسلامي امت یوه غټه مسئله عملاً وړاندې کوي، خامخا به د ایت حکم ورته شامل وي چې له ایمان څخه کنګال دي.

شیخ محمد بن ابراهیم رحمه الله په خپله رساله "**تحکیم القوانین**" کې وایي: فإنّ قوله عزوجل: **"یزْعُمُوْنَ" تکذیب لهم فیما ادعوه من الإیمان، فإنه لا يجتمع التحاكم إلى غير ما جاء به النبي صلى الله عليه وسلم مع الإيمان في قلب عبد أصلاً، بل أحدهما ينافي الآخر.**

ژباړه: د الله دا قول چې "یزعمون" دی، د دوی د ایمان دعوه دروغجنوي ځکه چې د نبي علیه السلام له راوړي قانون څخه پرته بل قانون ته فیصله وړل له ایمان سره په یوه زړه کې هیڅکله نه جمعه کیږي بلکې یو بل لره نفي کوي.

او امام شنقیطي رحمه الله د ذکر شوي ایت په تفسیر کې وایي: **ومن أصرح الأدلة في هذا: أن الله جل وعلا في سورة النساء بين أن من يريدون أن يتحاكموا إلى غير ما شرعه الله يتعجب من زعمهم أنهم مؤمنون، وما ذلك إلا لأن دعواهم الإيمان مع إرادة التحاكم إلى الطاغوت بالغة من الكذب ما يحصل منه العجب.**[أضواء البیان للشنقیطي ج 3/ 259].

ژباړه: په دې اړه ډېر ښکاره دلیل دا دی چې الله عزوجل په سورة نساء کې دا خبره بیان کړې ده چې څوک اراده لري د الله تعالی له قانون پرته بل قانون ته فیصله یوسي نو الله تعالی د دوی د ایمان له ګومان څخه تعجب کوي او د دې بل لامل نشته مګر همدا لامل چې طاغوت ته د فیصلې وړلو اراده کول، د دوی د ایمان له دعوې سره په دروغو کې مبالغه کول دي چې له امله یې تعجب پیدا کیږي.

نو د سترې محکمې رئیس دې لږ د دغه ایت سره ځان وتلي خپل حکم به ورته واضح شي.

همداراز په بل ایت کې الله عزوجل فرمایي: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا [سورة النساء:65] ، ژباړه: نه، ای محمده (صلی الله علیه وسلم)! ستا په رب قسم چې دوی هیڅکله مؤمنان کېدای نه شي، ترڅو چې په خپل منځي شخړو کې تا فیصله کوونکی ونه مني. بیا چې ته څه فیصله وکړې، پر هغې باندې په خپلو زړونو کې هم څه تنګي احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پایه یې ومني.

په دې آیت کې الله تعالی په خپل ذات قسم کړی او

د تحکیـم پـه مسـئله کـې يـې د ايمـان د اثبـات لپـاره يـو ځـو مرحلـې شرط کـړې دي چـې کلـه پـه دغـو مرحلـو يـو انسـان عمـل وکـړي نـو هغـه بـه مؤمـن وي او کـه عمـل ونـه کـړ نـو مؤمـن بـه نـه وي:

لـمړۍ مرحلـه: چـا چـې د اللـه تعالـی شريعـت او قانـون تـه فيصلـه يوړلـه نـو د ايمـان شرط پـه کـې موجـود شـو خـو چـا چـې د اللـه تعالـی لـه قانـون پرتـه بـل قانـون تـه فيصلـه يـوړه نـو اللـه عزوجـل د هغـوی پـه اړه فرمايـي: فَـلَا وَرَبِّـكَ لَا يُؤْمِنُـونَ، دوی مومنـان نـه دي.

دويمـه مرحلـه: څـوک چـې د اللـه تعالـی لـه فيصلـې پـه زړه کـې تنګوالـی محسـوس کـړي او لـه زړه څخـه د اللـه پـه فيصلـه راضي نـشي نـو دا هـم مومـن نـه دی، فَـلَا وَرَبِّـكَ لَا يُؤْمِنُـونَ.

نـو وګـورئ پـه دې ايـت کـې اللـه عزوجـل د هغـه چـا پـه اړه چـې د اللـه تعالـی قانـون تـه فيصلـه وړي خـو بيـا يـې هـم داسـې سـخت شرطونـه لګـولي دي، نـو د هغـه چـا بـه څـه حـال وي چـې د اسـلامي امـت يـوه سـتره مسـئله چـې د مسـلمانانو وينـې پـه کـې تـوی شـوې دي، اسـيران شـوي، بـې عزتـه شـوي، د اسـلامي مقدسـاتو سـپکاوی پـه کـې شـوی، د مسـلمانانو اولـه قبلـه پـه کـې غصـب شـوې، اسـلامي خـاوره غصـب شـوې او نـور ډول، ډول جنايتونـه پـه کـې د کفـارو لـه خـوا تـرسره شـوي، پـر ځـای د دې چـې پـه دغـه نړيـوال جنايـت کاره کفـارو بانـدې د اللـه تعالـی فيصلـه عمـلي کـړي او پـه مقابـل کـې يـې تـوره راپورتـه کـړي؛ د هغـوی لـه کفـري محکمـې څخـه يـې د حـل غوښـتنه کـوي!! خامخـا داسـې خلـک بـه پـه اولـه درجـه کـې د ايـت پـه دې حکـم کـې داخـل وي چـې فرمايـي: فَـلَا وَرَبِّـكَ لَا يُؤْمِنُـونَ؛ داسـې خلـک مومنـان نـه دي. نـو چـې د اللـه تعالـی پـه فيصلـه لـه يـو کـس څخـه ايمـان نفـي شـوی وي هغـه تـه مونـږ څنګـه مومـن ووايـو، د دغـه طالـب چارواکـي پـه شـمول د سـترې محکمـې د رئيـس چـې ټـول د فلسـطين پـه قضيـه کـې د کفـارو پـه فيصلـه راضي شـوي دي او د هغـوی لـه محکمـې څخـه د جـدي اقداماتـو غوښـتونکي دي؛ دوی تـه مونـږ څنګـه مؤمنـان ووايـو سره لـه دې چـې لـه داسـې خلکـو څخـه اللـه عزوجـل ايمـان نفـي کـړی دی، دا خـو بيـا د قـران تکذيـب راځـي، العيـاذ باللـه.

الغـرض طالـب مشرکينـو ټولـې نـړۍ تـه د خپلـې بېغيرتـۍ، بزدلـۍ او بـې ايمانـۍ پيغـام پريښـود، نـو مسـلمانان بـه يـې هيڅکلـه پـه لاپـو، غندنـو او اعلاميـو تېـر نـه وځـي، ان شـاء اللـه.

د نړۍ مسلمانانو ته پيغام

اې د محمـد صلـی اللـه عليـه وسـلم د طريقـو لاروپانـو! تاسـو د دغـو اسـلامي هيوادونـو د طاغوتـي حاکمانـو حـال وليـده، چـې دوی د يهـودو او نصـاراوو پـه وړانـدې د فلسـطين پـه قضيـه کـې کـوم کـردار ادا کـړ، د دوی بـزدلي، خيانت،منافقـت او خباثـت تاسـو وليـده، چـې يـوازې پـه لاپـو يـا غندنـو بسـنه کـوي او د دغـو مظلومـو مسـلمانانو د دفـاع لپـاره يـې هيـڅ شرعـي دريـځ اختيـار نـه کـړ، نـو لـه دوی څخـه د اقصـی د ازادۍ تمـه مـه لـرئ بلکـې د اقصـی د ازادۍ تمـه د اللـه تعالـی د مـدد نـه ورروسـته لـه هغـو مومنانـو څخـه ولـرئ چـې د اللـه تعالـی پـه لاره کـې د ولاء او بـراء د عقيـدې پـه اسـاس لـه هـر کافـر، مـشرک او مرتـد سره جنګيـږي او د مؤمنانـو لـه مـدد څخـه يـې قومـي او وطنـي پولـې، افـکار،د بيـن الملـل کفـري قوانيـن، نړيوالـې کفـري محکمـې او د کفـارو نـور جالونـه نـشي رابنـدولـی، همـدا هغـه مؤمنـان دي چـې اللـه عزوجـل ورسره د مـدد وعـده کـړې ده او وخـت پـه وخـت يـې ورسره ريښـتوني کـوي او هـم يـې ريښـتوني کـړې ده فرمايـلي دي: وَلَقَـدْ سَـبَقَتْ كَلِمَتُنَـا لِعِبَادِنَـا الْمُرْسَـلِينَ * إِنَّهُـمْ لَهُـمُ الْمَنْصُـورُونَ * وَإِنَّ جُنْدَنَـا لَهُـمُ الْغَالِبُـونَ *[سُـورَةُ الصَّافـات :171،172،173]. ژبـاړه: لـه خپلـو لېـږل شـويو بندګانـو سره مونـږ لا پخـوا وعـده کـړې ده، چـې پـه يقينـي ډول بـه لـه هغـو سره مرسـته وشي؛ او همـدا زمونـږ لښـکر بـه (پـر کافرانـو) بـرلاسی شي.

وماذلك على الله بعزيز.

وصلـی اللـه عـلی نبينـا محمـد وعـلی آلـه وصحبـه أجمعيـن.

اقصا
د امت قضيه
که سوداگري او شخصي گټې

د عمر رضي الله عنه زرين دور و، له هر لوري د اسلام د غازيانو د بريا او فتحو انگازې وې، د روم او فارس مانۍ او تختونه په زوال و، په همدې تاريخي شېبو کې يوه ورځ د اسلام لښکر وتوانيد چې د القدس په دروازو ننوځي، او د انبياوو عليهم السلام دا مبارکه خاوره د اسلام په سپېڅلو قوانينو مالامال کړي، دا دی پېړۍ وروسته يو ځل بيا د القدس په گډون ټوله اسلامي نړۍ د (صليبي، يهودي، رافضي) مثلث تر اشغال لاندې ده، او اسلامي امت د ذلت داسې حالت ته رسيدلی چې د خلاصون لپاره همدې مثلث ته د نجات چيغې وهي، ځينې د امت په ګټو کې شخصي ګټې گوري او ځينې بيا دومره حد پورې سپين سترگي دي چې پر امت روانې ناخوالې يې خپله سوداگري گرځولې او درگرده پرې تجارت کوي.

د اقصا قضيه هم د امت له مهمو قضيو څخه يوه ده چې په دې قضيه، په کې بشکيل اړخونه، داقصا اړوند د هغوی دريځ او د اقصا د آزادۍ لپاره رښتينې لاره کومه يوه ده په دې مقاله کې به پرې لنډ بحث وکړو.

د امت قضيه:

له هر څه وړاندې دا پېژندل ضروري دي چې د اقصا قضيه د امت قضيه ده، دا د هيڅ ډول وطني او ملي پولو ترمنځ محدوده نه ده بلکې دا د مسلمانانو لومړۍ قبله ده، د رسول الله صلی الله عليه وسلم مسری، د انبياوو کور او مبارک ځای دی چې خلاصون يې په ټول امت فرض دی، دلته د هر ډول نړيوالو طاغوتي قوانينو موافق تړون او معاهده لمنځه وړل د مسلمانانو وجيبه او فريضه ده، ددې د خلاصون لپاره د قرآني قوانينو مطابق جهاد او قتال په کار دی، نورې ټولې لارې مردودې او عبث دي، د اقصا پر قضيه له

ننګ وړاندې لازمه ده چې د انسان په زړه کې د توحید عقیده او ایمان موجود وي.

مظلوم فلسطيني

کله د عربي طواغیتو له لوري سوداګري کېږي، کله یې ایران او ترکیه د خپلو ګټو لپاره قربانوي او کله یې بیا حماس پلوري، پر دوی که له ملتونو او نړیوالې ټولنې ته خپل شکایات وړاندې کړي او ځینې یې بیا دې ته مجبوروي چې د الله لپاره د ورکړیو قربانیو په بدل کې هم باید یې ولټوي او نه یوازې د یهودو له شر څخه بلکې د هغه تجارانو له شرونو یې هم وژغوري چې دمګړۍ یې د دوی په مال، وینه، قربانۍ،

مسلمانان:

د اقصا په شاوخوا کې د فلسطین مظلوم مسلمانان میشت دي چې په تش لاس هم د اقصا د آزادۍ لپاره هر ډول قربانۍ ته تیار دي، خو ددوی په قربانیو یوه لوري د یهودو پوځې وحشت روان دی، له بلې خوا پرې پراخ فکري یرغل هم شروع دی، یو لوری یې وطنیت ته راکاږي، بل لور یې دې ته هڅوي چې ملګرو د ایران، قطر او ترکیې شکریه ادا کړي. خو په مؤمنانو واجب ده چې د دغه مظلومانو هر اړخیز ملاتړ ته راودانګي، په هره ممکنه لاره یې نصرت وکړي، خیرخواهي ناموس او مظلومیت تجارت پیل کړی دی.

حماس:

حماس یو وطنپال، دیموکرات او د اخوانیت په عقیده پالل شوی

يو ګمراه خوځښت دی، د يهودو په خلاف د دوی جګړه يوازې يوه وطني جګړه ده او هيڅ ډول شرعي او عقيدوي بڼه نه لري، د حماس ټول مشران خپله پر دې اقرار کوي چې د يهودو سره د دوی جګړه له دې وجې نه ده چې ګوندې دوی يهود دي، بلکې له دې وجې ده چې فلسطين يې اشغال کړی دی، حال دا چې د مسلمانانو او يهودو ترمنځ جګړه يوه حتمي، شرعي، او عقيدوي جګړه ده.

حماس په ځغرده ويلي چې دوی په ديموکراسۍ باور لري او له همدې وجې په غزه کې اوسنۍ حکومت د ټاکنو له لارې ټاکل شوی چې حماس پرې واکمن دی.

حماس ځايي او نړيوالو طاغوتي محکمو ته خپلې فيصلې وړي، کومې چې په بشپړ ډول د الله عز وجل له شريعت سره په ټکر کې دي، او همدا راز د ملګرو ملتونو قوانينو او مقرراتو ته په بشپړ ډول ژمن دي.

حماس په الهي قوانينو فيصلې نه کوي او نه يې د تحکيم لپاره هڅې کوي، بلکې طائفه ممتنعه ده او په زوره يې ځان د الله عز وجل د شريعت د نفاذ څخه بند کړی دی، بلکې ددې سربيره دوی په هغو وضعي قوانينو فيصلې کوي او د تحکيم لپاره يې هڅې کوي کوم قوانين چې د شرکي پارلمانونو په تالارونو کې جوړ شوي دي.

حماس د طواغيتو او مرتدينو سره تعاون، ملاتړ، او محبت لري؛ لکه د ايران او نورو طواغيتو سره چې د دوی حال دی.

حماس په سيناء ولايت او ځينو نورو سيمو کې د مصري او نورو طاغوتي پوځيانو سره د اسلامي دولت د مجاهدينو پر ضد جګړه کې کومک کاوه او د مرتدينو سره يې استخباراتي او پوځي مرستې کولې.

حماس د قرآن او سنت ډيری احکام تعطيل کړي او ځنډولي يې دي، تطبيق يې نه کوي او پر هغوی هم بد وايي چې اسلام په بشپړ ډول تطبيقوي، په ځانګړې ډول هغوی چې د جزيي احکام تطبيقوي، يا د کفارو سره جګړه کوي او يا حدود تنفيذوي.

حماس روافض مشرکين مسلمانان ګڼي، مذهب يې سم ګڼي، هغوی خپل رښتيني رهبران ګڼي او ځان ورته نږدې نږدې کوي.

حماس يو وطني خوځښت دی چې د ملګرو ملتونو په سيوري کې او د ايران، قطر او ترکيې د مستقيمي ځارنې لاندې د يهودو سره يوازې يوه وطني جګړه مخ ته وړي او کوښښ يې دی چې يهود ورسره د ۱۹۶۷ کال ويشل شوی فلسطين

ومني، نور يې نه جګړه عقيدوي بڼه لري او نه ورته ديني او معنوي ارزښتونه مهم دي.

په ټوله کې حماس هم لکه د مرتدو طالب ملېشو په څېر د ایران او قطر نيابتي ملېشې دي او د سيمې د طواغيتو د ګټو لپاره وطني جګړه مخته وړي، چې د حماس او طالبانو د ښه پېژندلو لپاره د (حماس او طالبان په نوم د العزائم مؤسسې خپور شوی کتاب ولولئ تر څو يې په اړه بشپړ معلومات ترلاسه کړئ.

يهود:

د اقصا په قضيه کې بل ښکېل لوری ګمراه يهود دي، يهود نه يوازې دا چې اقصا يې اشغال کړې، بلکې د صليبيانو له لوري د نوري اسلامي نړۍ په اشغال کې هم د يهودو ونډه له چا څخه کمه نه ده، دوی د غربي هېوادونو مهمو استخباراتي او پوځي ځايونو ته ځان رسولی، او د نړۍ د اقتصاد سرچينې يې خپلو لاسونو کې نيولې دي، دوی غواړي په منځني ختيځ کې لوی يهودي دولت جوړ کړي، د همدې لپاره دوی خپله جګړه مقدسه جګړه بولي، دا جګړه خپل دين ګڼي، د مسلمانانو د وژلو که کوچنيان وي که زنانه او که سپين ږيري يا ځوانان ترمنځ هيڅ توپير نه پېژني او همدا ورته د تورات د نصوصو تطبيق ښکاري، له نتنياهو راونيسه تر يوه کوچني يهودي ټول په دې آند دي چې د دوی جګړه سپېڅلې ده، شرعي بڼه لري او د خپل دين او تورات د اوچتوالي لپاره جګړه کوي.

عربي نړۍ

د اقصا په قضيه کې بل مطرح لوری عربي نړۍ او پکې اوسني واکمن طواغيت يادېږي، ياد هېوادونه چې تش په نوم اسلامي واکمنان پکې حاکمان دي، د اقصا د قضيې تر ټولو ستر سوداګر ګڼل کېږي، دوی له يو لوري څخه فلسطين کلابند کړی دی او له بل لوري همدوی د يهودو د دولت ګوتې لومړني مدافعين، حاميان او ساتونکي بلل کېږي، په اسلامي نړۍ د روانو ناخوالو او په ځانګړې ډول د اقصا د اشغال په برخه کې تر ټولو ستر رول د همدغه عرب طواغيتو او واکمنو عياشو حاکمانو دی، دوی د صليبي او صهيوني يرغلونو تر ټولو ستر حاميان دي، او د عربو ټاپو وزمې هر هيواد نن سبا د يهودو او صليبيانو د يوې سترې پوځي هډې بڼه غوره کړې ده، له يوه لوري سعودي د رواني صهيو ـ صليبي جګړې اکمالاتي برخه مخته وړي، قطر بيا د ټولو هغو خوځښتونو پر





اهلي کولو او بېغیرته کولو کار کوي چې په سیمه کې د طواغیتو په خلاف د سر اوچتولو کوښښ کوي، قطر که پرون د سوریې ځینې خوځښتونه او طالبان ملېشې اهلي کړل، نن یې حماس لاس کې نیولی او د شطرنج د مهرو په څېر هغه شان کاروي په کوم رنګ یې چې یهود او امریکا وغواړي او د جنګ ټوله بیه بیا مظلوم عام مسلمانان پرې کوي او یا په تدریجي ډول د فلسطین باقي سیمې هم یهودو ته سپارل کېږي.

ایران او ترکیه

د اقصا د قضیې تر ټولو ستر تجاران د ایران او ترکیې هیوادونه دي، ترکیه خو د خپل عادت له مخې تل هغه کارونه کوي چې د دوی ګټې ورسره خوندي کېږي، او د خپلو ګټو لپاره یو ورځ د یهودو یرغل ته چکچکې کوي او بله ورځ بیا د فلسطیني مسلمانانو پر مظلومیت د تمساح اوښکې تویوي، له یوه لوري د یهودو د دولت ګوتې اقتصادي ماشین چلوي او له بل لوري بیا د فلسطین د دفاع چیغې د ټاکنو د کمپاین غوښتنه برخه ګڼي، له بل لوري ایران خو له کلونو کلونو راهیسې په جزیرة العرب او منځنې ختیځ د رافضي هلال د لیدلو خوبونه ویني، چې په عراق، سوریه، یمن، لبنان او نوره سیمه کې یې جګړې او په یادو سیمو واک ګواښي ورکوي، ایران هڅه کوي چې د رافضي کینسر ریښې د اقصا تر دیوالونو ورسوي، چې بیا به د دې ضرورت نه وي چې اسلامي امت د یهودو ظلمونه او وحشتونه بیان کړي ځکه چې روافض له یهودو څخه په هیڅ بربریت کې کم نه دي، ایراني روافض د امت د اشغال په برخه کې تر ټولو مهمه ونډه لري، ځکه په تېر او معاصر تاریخ کې همېشه یهود او نصارا د روافضو په اوږو سپاره شوي او اسلامي امت یې اشغال کړی دی، په تېرو دوو، دریو لسیزو کې د عراق، افغانستان، سوریې او ځینو نورو سیمو اشغال یې ښې بیلګې دي، ایران د حماس وطني خوځښت هر څه په لاس کې نیولی دی او اوس مهال په بشپړ ډول داسې انګیرل کېږي ګویا د سپاه پاسداران یو ګروپ په فلسطین کې جنګېږي، د دوی هدف نه د اقصا آزادي ده او نه د امت خیرخواهي، بلکې د عراق او سوریې په څېر به فلسطین کې هم د توحید په عقیده سمبال نسل او ځوان کهول به په خپله غیږه کې راونغاړي او بیا به سیمه کې داسې څوک پیدا نه شي

چې د رافضي اشغال په سیوري کې د امریکایي او یا یهودي اشغال پر ضد راپاڅېږي.

دا د اقصا د قضیې اوسنی حالت او یکې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د ښکېلو اړخونو لنډه خلاصه ده، د اقصا قضیې دا ثابته کړه چې کفر یو ملت دی، او کفار د مسلمانانو پر ضد د عقیدې او معنوي ارزښتونو له وجې جنګېږي او د همدغه اهدافو لپاره یې ځینې طواغیت او ملېشې هم تابع ګرځولي دي.

د اقصا قضیې د امت معنوي حالت هم په ډاګه کړ او معلومه شوه چې له امته په بشپړه ډول د انقلاب او غچ روحیه کرار کرار په کوچېدو ده او اوس امت خپل مسؤلیت دا ګڼي چې یوازې غندنې وکړي، لاریونونو پیل کړي، چیغې ووهي او په یوازې تشو شعارونو بسنه وکړي، او د امت لپاره همداسې حق غوښتنه کفار هم غواړي، تر څو له امت څخه پاتې غیرت هم کډه وکړي او بیا یوازې تش په نوم اسلام پاتې وي او نور ټوله غلبه د کفر او شرک وي، حسبنا الله ونعم الوکیل.

د اقصا قضیې مونږ ته راوښوده چې د دې قضیې حل نه هغه وطني خوځښتونو سره دی چې د ملګرو ملتونو او نړیوالو قوانینو ته ژمن وي، د قطر او ترکیې په هوټلونو او امریکایي هڅو کې خړیږي او ټول هدف یې ملي ګټې، وطن، رنګارنګ ړانده بیرغونه او نامشروعه پولې وي.

د اقصا د قضیې حل نه هغه ملېشې کولی شي چې کلونه یې خلک د جهاد او قربانیو په نوم غولولي وي خو چې د امت لپاره د قربانۍ خبره شي، بیا یې فکر په محدودو نامشروعه پولو کې بند وي او د نور امت نصرت ورته فرض لا څه یو مباح کار هم نه ښکاري، نه دا قضیه هغه ملتونه حل کولی شي چې خپله ټوله انرژي په لاریونونو، تشو شعارونو، چیغو، چکچکو، وطني بیرغونو رپولو او د یهودو د بیرغونو په سوځولو مصروفوي، او دا قضیه د هغوی د وس کار دی چې کلونه یې د اقصا په قضیه تجارت کړی، یا یې په کې خپل مصالح او ګټې لټولي او یا هغوی چې د اسلامي نړۍ په اشغال کې یې له یهودو زیات رول لوبولی وي.

بلکه د دې قضیې حل هغه وخت شونی دی چې:

دا قضیه د امت قضیه وګڼل شي، اقصا او نوره اشغال اسلامي نړۍ د یو وجود په څېر وګڼل شي او له فلیپینه تر اندلسه د ټولې اسلامي نړۍ د آزادۍ لپاره کوټلي ګامونه پورته شي.

د اقصا د قضیې حل هغه وخت شونی دی چې فکرونه د وطني پولو له محدودې کړۍ وایستل شي او عامه ذهنیت داسې جوړ شي چې له ختیځې آسیا نه تر اروپا ټوله اسلامي نړۍ یو وجود، یو بدن او یوه وینه ده.

د اقصا قضیه هغه وخت حل کېږي چې د یهودي دولت ګوټي د چهاردیوالۍ دیوالونه ونړول شي، کوم دیوالونه چې اوسمهال

عربو طواغیتو جوړ کړې دي او په حمایتي برجونو کې یې د اماراتو، سعودي، قطر، مصر، لبنان، اردن او سوډان طاغوتي پوځونه پراته دي؛ تر څو چې دا مظبوط دیوالونه او په حمایتي برجونو کې یې ناست طاغوتي پوځونه راونه پرځول شي د اقصا د قضیې حل او د بیت المقدس آزادي یو تش خیال او خوب دی.

د اقصا د قضیې حل هغه وخت ممکن دی چې دې قضیې ته د وطني فکر پرځای د عقیدې له زاویې وکتل شي او د دې قضیې د حل لپاره د توحید په سپېڅلي ګانه سمبال مجاهدین د نبوي منهج په سیوري کې د الله عز وجل د رضا لپاره د قتال او جهاد ډګر ته راودانګي، له دې پرته هیڅ سوله ییز، پوځي او مذاکراتي حل ممکن نه دی.

نو د اقصا د آزادۍ لپاره نه د حماس په وطني خوځښت زړه تړل په کار دي، کومو ته چې د ایران رضایت د الله عز وجل له رضایت څخه لومړیتوب لري.

نه په طالب ملېشو او نورو تش په نوم جهادي خوځښتونو زړه تړل په کار دي، کومو ته چې ملي ارزښتونه، ملګري ملتونه او نړیوال طاغوتي محکمه په شریعت، امت او جهاد شرف لري.

نه په عربو طواغیتو، ایران، ترکیې او نورو طاغوتي پوځونو زړه تړل په کار دي، ځکه د دغو طاغوتي پوځونو خپل وحشتونه د اسلامي امت پر وړاندې د یهودو له وحشتونو څخه کم نه دي.

بلکې د اقصا او نورې اسلامي نړۍ آزادي یوازې هغه سپېڅلي مجاهدین کولی شي چې د توحید په عقیده او ایمان مزین وي، په هیڅ ډول طاغوتي قوانینو، وطني پولو، نړیوالو کفري قوانینو او نورو ملي ارزښتونو باور نه لري، بلکې دیني ارزښتونه ورته تر مال، ځان، هیواد او هرڅه مهم وي.

هغه مجاهدین چې د یهودو، صلیبیانو او نورو طواغیتو سره جګړه د دې لپاره کوي چې دوی د الله عز وجل، د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم، د اسلام د دین او سپېڅلي شریعت دښمنان دي، نه له دې وجې چې دوی اشغالګر، ستمګر او زمونږ پر هیواد یرغلګر دي، بلکې هغوی ته د اسلامي نړۍ یوه لویشت خاوره هم خپله خاوره ښکاري او تر څو یې چې ټوله نړۍ د رافضي، صلیبي او یهودي اشغال څخه نه وي پاکه کړې، د قتال، جهاد، اعداد او استشهاد څخه لاس نه اخلي.

هغه مجاهدین د اقصا د مظلومو مسلمانانو د نصرت لپاره لاریونونه نه کوي نه هسې چیغې سورې وهي، بلکې د مسلمانانو د نصرت لپاره د قتال او جهاد شرعي لاره غوره کوي؛ او همدا د اسلامي دولت مجاهدین دي، کومو چې نه یوازې د اقصا د آزادۍ لپاره متې رانغاړلي، بلکې له مالیزیا تر مغرب او هسپانیا یې د ټولې اسلامي نړۍ د آزادۍ لپاره هر اړخیزه مبارزه پیل کړې ده.

د محمدي امت کړيغې
او د مرتدو حکامو خيانت

بسم الله والصلاة والسلام على من أرسله الله امابعد:
مونږ د خپل هر کوچني او لوی مشکل او پریشانی شکایت خپل رب ته کوو ای زمونږ او د ټولو مخلوقاتو ربه! د اسلامي امت سترګي له اوښکو ډکي دي، هر ځای زګيروي، فریادونه او سوي کړیکي دي، د باعفته خویندو او میندو عزتونه لوټ شول، مقدسات يې پایمال شول، کورونه يې وران شول، د محمدي امت نوي نسل په غیږ او زانګو کي په سرو لمبو لولپه شو، ټوټه ټوټه شو، قتل شو، لمبه لمبه شو، کریکي يې ځمکي واوریدي آسمان واوریدي، د انسانانو او جناتو په شمول هر حیوان واوریدي، د کفارو څخه د دي مسلمانانو دانتقام او غچ اخستني په پار مونږ ډیر وکتل اعلانونه مو وکړل، چغي مو ووهلي فریادونه مو وکړل خو ستا په بنده ګانو کي د ګوتو په شمیر د يو څو مخلصو مؤمنانو پرته مو نور هیڅ څوک مونده نه کړل، چي د امت دغه غم خپل غم وګڼي، د دوی د عزتونو مقدساتو او أعراضو ساتنه او حفاظت وکړي، مونږ هم په همدي اکتفاء غوره کړه او ستا په دي مقدس کلام مو تشفی او زړه ته مو داډ حاصل شو، چي تا فرمایلي: **{كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّٰبِرِينَ}**

ژباړه: ډیر ځله داسي شوي دي چي (د عدد او عُدة په اعتبار سره) یوه وړه ډله د الله په امر پر یوي لویي ډلي برلاسه شویده او (دا ځکه چي) الله د صبر کوونکو ملګری دی: [سورة البقرة : ۲۴۹]

د موجوده حال سبب او علت

بلکل زمونږ په دي ایمان او یقین دی، چي د محمدي امت سره له ډیره وخته شروع شوی دغه ظلم او وحشت دا نور څه نه دي، بلکي دا هغه وړاندويني دي چي د الله نبي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د نن څخه تقریبا (پنځه لس سوه ۱۵۰۰) کاله مخکي کړي وي، نن هغه ټولي همدا دي ورځ په ورځ ثابتیږي، نړی يې مشاهده کوي، چي یوله دغه وړاندوينو څخه همدا ده چي په مسلمانانو به کفار داسي راغونډ شي لکه وږي خلک چي کاسي ته راغونډیږي.

حدیث په دي ډول دی امام ابوداود رحمه الله په سند سره د ثوبان رضي الله عنه څخه نقل کړی فرمایی: **ثوبان، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (يوشك الأمم أن تداعى عليكم كما تداعى الأكلة إلى قصعتها»، فقال قائل: ومن قلة نحن يومئذ؟ قال: «بل أنتم يومئذ كثير، ولكنكم غثاء كغثاء السيل، ولينزعن الله من صدور عدوكم المهابة منكم، وليقذفن الله في قلوبكم الوهن»، فقال قائل: يا رسول الله، وما الوهن؟ قال: «حب الدنيا، وكراهية الموت)**

ژباړه: نیږدي ده چي په تاسي کفري ډلي داسي راغونډي شي لکه څنګه چي خوړونکي خپلي د خوراک کاسي ته راغونډیږي، نو يو ویونکي وفرمایل ادا به زمونږ د کموالي له وجي وي، په دغه ورځ؛ هغه وفرمایل نه بلکي تاسي به ډیر یاستئ، خو تاسي به لکه د سیلاب د ځګ په څیر یاست او ستاسي د دښمن د سینو څخه به الله ستاسي رعب وباسي او ستاسي په زړونو کي به وهن واچوي، نو ویونکي وفرمایل" ای د الله رسوله! صل الله علیه وسلم وهن څه شی دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دنیا سره محبت او د مرګ څخه یره.

سنن أبي داود باب في تداعي الأمم على الإسلام [رقم الحديث ۴۲۹۷]

د مرګ څخه خوف او د دنیا سره محبت، د دي صفا مطلب همدا دی چي دنیا سره محبت وکړای شي مال داري او دنیاداري خوښه کړای شي او جهاد بد وګڼل شي په دي بهانه چي په دي کي مرګ دی او مرګ څخه یره وکړل شي، نو جهاد ترک کړای شي ځکه په بل حدیث کی دغه انداز واضح بیان شوی، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمایي: ما د رسول الله

صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې هغه فرمایل **(إذا تبایعتم بالعینة وأخذتم أذناب البقر، ورضیتم بالزرع، وترکتم الجهاد، سلط الله علیکم ذلا لا ینزعه حتی ترجعوا إلی دینکم.)** ژباړه: چې کله تاسو عینه سوداګانې وکړې (عینه دې ته وایي چې یومال تریوې نیټې قرض وپلورې، بیا یې بیرته له اخستونکي په نقدو باندې په کمو پیسو واخلي) او دغواګانو لکۍ مو ونیولې او په کروندو مو بسنه وکړه او جهاد مو پرېښوده، نو الله به دربانډې داسې ذلت مسلط کړي، چې ترهغې به یې درڅخه پورته نه کړي، چې ترڅو تاسې خپل دین ته رجوع ونه کړئ. (سنن أبی داودباب في النهي عن العینة رقم الحدیث ۳۴۶۲)

نن بعینه د همدې حدیث په اساس که فکر وکړای شي نو د ترک الجهاد او حب الدنیا او کراهیة الموت له کبله په مسلمانانو د دنیا ټول کفار او مرتدین داسې راجمعه شوي دي، لکه په ریښتیا چې وږې خوړونکې کاسې ته راجمعه کیږي، په هیڅ ځای او طرف کې مسلمانان د دوی څخه په امان نه دي، د ځمکې پرمخ دې مونږ ته څوک راوښایي چې هلته مسلمان په امن او خوشحاله وي او د کفارو د ظلم او ستم ښکار نه وي ګرځېدلي، مونږ د موصل او رمادي، فلوجه او بیجي، صلاح الدین او دمشق، الخیر او رقه، باغوز او کوبانیا، لیبیا خراسان او فلپین افریقا او ساحل د کفري ټلوالې سره د جمله عربو او عجمو مرتدینو او بلعام د پرکټو خرصفته او سپي صفته ملایانو اوشیخانو د فتوو په مرسته په شریک تحالف بې ون او بې باون په شمول د لس ډوله جیټانو هلې کفترو او ډرونونو ړوند بمبار او له شمیر څخه وتلي کروزونه او توپونه نه یادوو مونږ د دوی په دې شیطاني او فرعوني حمله کې د زرګونو ځوانانو، بوډاګانو، باعفته مهاجرو او انصارو، تورسرو او کوچنیو ماشومانو بې رحمه قتلول او تعذیبول هم نه یادوو، د نړۍ په ګوډ ګوډ کې د مؤمنو مهاجرو او انصارو ورونو په شمول د مؤمناتو خویندو

اسارت او بندیکول هم نه یادوو، ځکه د اصلي کفارو او کلمه ویونکو مرتدینو او د هغوی د شیطاني بلاعمه وو په نزد دا د سره ګناه نه ده، چې د خلافت او شریعت د نفاذ او د امت د اتفاق او اتحاد د پاره کوشش کونکي چې که څوک وي او په کومه طریقه هم قتل او یاهم تعذیب شي نو دا د افسوس خبره نه ده، بلکه د دوی په نزد همداسې پکار ده چې د دوی سره په سختۍ او ناوړه چلند په وجه بیا څوک د خلافت او د اسلامي شریعت د تنفیذ او نفاذ نوم وانه خلي. هو! دا د دوی ګمان دی، باقي دوی خو خپل ټول حدّ او حدید په دې استعمال کړل خو کیږي به هغه څه چې الله اراده کړې وي، دې باب کې مؤمنان خپله ایماني سرچینه د قراني او نبوي نصوصو او فرامینو څخه أخلي، ځکه نو د الله او د هغه د نبي صلی الله علیه وسلم د وعدو موافق به د اسلامي خلافت او د نبوي شریعت د تنفیذ دغه اتلان په خپل دریځ او منهج روان وي، دې لار کې که د سر وي، که د ځان د مال وي او که د اولاد په دې قربانولو قطعاً نه سستیږي او نه د خپل عزم څخه راګرځي او نه د دې په حقانیت شکمن کیږي، دلته مونږ د دې څخه بحث نه کوو دلته زمونږ موضوع د نړۍ نور هغه مسلمانان دي، چې د أصلي کفارو او د هغوی کم کرایه مزدورانو د خپلو خپلو أهدافو په خاطر د خپل ظلم او ستم ښکار ګرځولي دي، هغه که د سوډان مسلمانان دي، که د ایغور یعنې د شرقي ترکستان مسلمانان دي، هغه که د هندوستان او برما مسلمانان دي، که د تاجکستان او افغانستان مسلمان دي، هغه که د ایران په ناپاکه خاوره اوسیدونکي مسلمانان دي او که د پاکستان د ظلم او ستم نه شپه او ورځ ژړیدونکي مسلمانان دي، په دوی د شوي او جاري ستمونو او ظلمونو د داستان د حمل څخه ځمکه عاجزه شوې، اسمان بې تابه دی خو بس تقدیر د رب جاري دی ورځ د حساب راروانه ده، اګر که چاته به لرې ښکاري خو مونږ یې ډیره نیږدې وینو.

د موجوده حالت څخه د وتلو لاره

دلته د مسلمانانو دغه ذلت او په دوی د مودو مودو راهیسې د جاري ظلم او ستم لوی سبب هماغه دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم

بیان کړې چې هغه د دنیا سره محبت او د مرګ له یرې جهاد ترک کول دي. درود دي وي په پاک نبي صلی الله علیه وسلم چې که یو طرف یې د ذلت سبب او علت بیان کړی، نو بل طرف یې د دې څخه د وتلو لار او طریقه هم ښودلې ده، چې هغه جهاد کول دي، فقط ځکه هغه حدیث کې د دې ذلت نه د وتلو وجه همدا ښودلې فرمایي : **(سلط الله علیکم ذلا لا ینزعه حتی ترجعوا إلی دینکم)** ژباړه: نو الله به دربانديې داسې ذلت مسلط کړي چې ترهغې به یې درڅخه پورته نه کړي، چې ترڅو تاسې خپل دین ته رجوع ونه کړئ " الحدیث نو دلته حیثیت د جهاد وګوروئ، په داسې حال کې چې کله د دې په ترک د مسلمانانو دین او ایمان خرابیږي، نو بیا جهاد د روغ مستقل دین حیثیت لري، ځکه یې وفرمایل چې ترڅو خپل دین یعني جهاد ته رجوع ونه کړئ، ترهغې به تاسې په همدې ذلت کې یاست نن دهمدې ترک الجهاد په سبب دادی له مودو مودو راهیسې مظلومه او اسیره أقصی او د هغې مظلوم فلسطیني مسلمانان د یهودو او نصاراو د وحشت او بربریت څخه بیا کړیکې په سر دي، دا هم مه هیروئ، چې په دې حمله کې یهود تنها نه دي، بلکې په دې کې ورسره د مشرکو نصاراو په شمول جمله کفار او د مسلمانانو په ځمکه حاکم مرتدین هم شریک دي.

د وخت مرتد حاکمان او د امت حال

دا څوک منې او که نه خو حقیقت همدا دی چې مونږ ذکر کړ راځو مطلب ته که څه هم له یو طرف نه دې مسلمانانو جهاد ته شاه ګرځولې او د دنیا سره یې محبت دښمن ته دا جرأت ورکړی، چې په دوی یې دا ورځ شروع کړې، خو بل طرف د ریښتونو مسلمانانو بیا هم دا فرض جوړیږي، چې د دوی دفاع او طرف داري به کوي، دا د هر مسلمان وظیفه ده چې هغه به بل مسلمان دښمن ته تنها نه پریږدي، هغه که په هرمیدان کې وي دفاع به یې کوي او په غم او سختۍ کې به ورسره ځان ملګری او شریک ګڼي د دې لپاره به شرعي او اسلامي طریقه اختیاروي، نه لکه د طواغیتو مرتدو حکومتونو چې په جلسو او جلوسونو او تشو چغو او فریادونو د درواغو باټې ووهي او دا د خپلې ذمې فراغت ګڼي نه قطعاً نه، بلکې د جلسو او لاریونونو ضرر او ښکاره تاوان دا دی چې په دې سره دغه خلک د کفارو بین المللي کفري قانون او محکمې ته فریاد کوي، دوی کې ناخبره عوام دا کار ثواب ګڼي خو په حقیقت کې دغې محکمې او شوری ته فیصله ورل

دا خپله صریح کفر دی، خو اکثر خلک دې خبروته کله سوچ کوي، بیا د شرم له پاسه شرم او د ذلت له پاسه ذلت او د بې غیرتۍ د پاسه بې غیرتي داده، چې ځانته مسلمان ویونکي ډېری داسې مرتد حکومتونه هم په دوی کې شته، چې د اسبابو او وسائلو په لحاظ سره د هرڅه څخه پوره دي، حتی د سوپر پاور او اټمي طاقتونو په نومونو نومول کیږي او ساتل خو پریږده حیوانات هم د ځانونو پوري وختدول، مونږ دلته قطعاً دا ګیله نه کوو چې ولې دوی د فلسطین د مسلمانانو دفاع ته نه پورته کیږي او د هغوی حمایت نه کوي؟ او نه د دوی څخه دا طمعه او امید ساتو چې ګنې دوی به داسې وکړای شي! نه قطعاً دا ممکن نه ده ځکه د مسلمان دفاع دا صرف مسلمان کوي، مخکې هم دغه فلسطین مسلمانانو ازاد لري نه دی بې حده نېږدې شوی دی، نن هم وګورئ د صلیب د جنګ په مقابل کې د ولاء او براء او د شرعي عقیدوي اصولو او قراني فرموداتو موافق چا جنګ شروع کړی دی، دا کلمه ویونکي مرتدین او طواغیت لکه د سعودي، مصر، یمن، لبنان وغیره په شمول عرب، امارات، ترکیه، پاکستان، تاجکستان مرتد امارت افغاني وغیره مرتدین حکام او دوی بې ایمانه افواج د خلاص حکومتونه خو خپله په خپلو ممالکو کې د مسلمانانو مؤحدینو په نیولو قتلولو او ربړولو داسې مصروف دي، چې د صلیب څخه پر دې کار امتیازات او شخصي شاباسیاني او د ډالرو کڅوړې لاس ته راوړي، دوی به څنګه او په کوم علت د فلسطین د مسلمان ولس غم او درد خپل غم او درد وګڼي، او یا به د ایغور د مظلوم امت او د اسیري بخاری پوښتنه وکړي؟ نه بلکې

شوي بلاعمه يې لا بیا دغه اقتدارونه د الله په ستر نعمت نوموي، خو د بزدلۍ او بې غیرتۍ حد یې انسان کړی و او بیا به یې هم مسلمانان ازادوي، نړۍ دې د عقل تدبر او سوچ سره ننداره وکړي، هرڅه به په خپله ووینې دا وخت دي توان نه لري چې د دې خلاف یو ستوغ غږ پورته کړي، عملي اقدام خو ډېره لري خبره ده، دا د ایمان او اسلام څخه دوی خو کفري نړۍ په همدې معاهدو اقتدار ته رسولي، چې که مونږ هرڅه کول ګوره تاسې به صرف تماشه کوئ،

هیڅ قسم عملي اقدام ته به نه خپله زړه خه کوئ او نه به بل ته د دې اجازه ورکوئ تاسو نه ګورئ د دوی د دې دومره قوتونو د دعوو او طاقت باوجود د دوی خاموشي دا په خپله په دې دلیل نه دی چې دوی په فلسطین او د دې په أهل د اسرائیلو په دې حمله د زړه څخه راضي دي او ډیر د دوی څخه دا داسرائیل حق ګڼي لسان الحال یې په دې باندې ګویا دی أګر که دوی دیته هر نوم ورکوي! جلوسونه او چغې او چاندې دا چې کوي، نو دا هم یو د مسلمانانو د دوکه کولو لپاره کوي، بل په دې کې هم لکه د واورې د چم په زړو کې سل هغوی ته نه رسیږي، بل دغه کارونه یې د بین المللي اصولو موافق دي، نو ځکه په دې سره دغه کفار د دوی څخه نه خفه کیږي، تاسې وکتل چې دا کارونه نه تنها مرتدو حکامو بلکې اصلي کفارو هم وکړل نو اوس دې لوستونکي ووایي چې په دوی کې د مسلمانانو دفاع کونکي او خیرخواه څوک شول؟ ای بلاعمه وو خپلو ګریوانو کې وګورئ.

دلته څوکرښې د شیطان د پرکټو بلاعمه ملایانو او شیخانو په رد کې لیکو او هغه دا چې تاسې د وخت بچې د تلې سرته په کتو اوړئ او بدلیږئ، تاسې پرون اسلامي دولت او په نبوي منهج جوړ خلافت د خوارجو او باغیانو په خلافت ونوماوه او د خپلو خیټو څخه مو د بې دلیله فتواوو په استفراق کولو د ډیرې بې علمه مسلمانانو مخه د الله په لاره کې د وتلو څخه ونیوله، اګر چې په "صدٌّ عن سبیل الله" کې پوره کامیاب هم نه شوئ، خو د حکامو له لورې د درکړل شوې کونجارې حق مو ادا کړ!

او دادی نن مو په دې مردارو او ګنده خولو کې دا طاغوتي زهر په بل ډول نیولي، هم د فلسطین په حال د بې علمه مسلمانانو څخه دا فائده اخلئ چې د دوی په مرسته کفري ملتونو ته فریاد کوئ او د هغوی محکمې ته عریضې وړاندې کوئ، چې په فلسطین ظلم روان دی، د دې مخه دې ونیول شي، بل طرف بیا په خپله دغه بې علمه مسلمانان چې د جهاد فی سبیل الله د فریضی ادا کولو د پاره فلسطین ته د تلو قصد او اراده کوي، نو تاسې هغوی د دې څخه راګرځوئ، کله دا بهانه کوئ چې هلته د اسرائیل سره جنګیدونکي خلک کافي دي، ستاسو تلو ته ضرورت نه شته! سره د دې چې هلته د اسرائیل سره دغه جنګ د اسلامي عقیدې په بناء نه دی او نه هغه جنګیدونکي چې تاسې ورته مجاهدین وایی هغوی مسلمانان

الحمد لله رب العالمين، القائل في محكم التنزيل: {يا أيها الذين آمنوا ما لكم إذا قيل لكم انفروا في سبيل الله اثاقلتم إلى الأرض أرضيتم بالحياة الدنيا من الآخرة فما متاع الحياة الدنيا في الآخرة إلا قليل * إلا تنفروا يعذبكم عذابا أليما ويستبدل قوما غيركم ولا تضروه شيئا والله على كل شيء قدير}. والصلاة والسلام على البشير النذير، والسراج المنير، القائل: (من مات ولم يغز ولم يحدث نفسه بالغزو مات على شعبة من نفاق)، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه الطيبين الطاهرين، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، وسلم تسليما كثيرا.

اسلامي نړۍ نن د وطنيت او لادنيت په سېلاب کې غرقه ده، دا ممکنه نده چې دښمنان دې برسېره په دې چې د اسلام په ضد يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي ،اجازه ورکړي چې د اسلام حقيقي سياسي نظام دې په يو ټوټه ځمکه باندې واکمن شي او که چېرې يې وکړي نو مثال يې داسې دی لکه څوک چې ځانته کور جوړ او بيا يې بې خه او بې بده او بې لدې چې ځانته بل کور پيداه کړي وران يې کړي، هوښيار سړی خو داسې کار نه کوي، نو موږ ته هم شريعت تقريباً 1400کاله مخکې يادونه کړې، چې تاسې خپل دښمن باندې خه ګمان مکوئ، دوی ستاسې د نابودۍ لپاره په خپلو زړونو کې نه ختمېدونکې کينه او بغض لري.

قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿118﴾

لکه څنګه چې امام قرطبي رحمه الله د دې آيت په تفسير کې فرمايي:چې الله رب العالمين خپل بنده ګانو ته اعلان او خبر ورکړی دی چې ستاسې دښمنان په خپلو زړونو کې د هغې په نسبت زياته دښمني لري د کومې دښمنۍ ذکر او يادونه چې په خوله کوي . وقال القرطبي: " قوله تعالى: **(وما تخفي صدورهم أكبر) إخبار وإعلام بأنهم يبطنون من البغضاء أكثر مما يظهرون بأفواههم"** عجيبه نده؟ نن سبا د محکوميت او د کفارو د اشغال او وحشت څخه د اسلامي نړۍ د خلاصون لپاره صرف د څو کسانو د اوښکو له تويولو او د غم او درد د اشعارو او شعارونو له ويلو او ورکولو پرته بل کوم دروند عکسلعمل نه ليدل کيږي ولې؟

دا چې اسلامي نړۍ اسيره ده ، اسلامي امت په بد حال او پايمال دی ، ټول په مصائبو او وحشتونو کې راګير دي ولې نن همدا لوې مصيبتونه او دردونه مسلمانان خپل نه ګڼي دا درد او مصيبت ورته پردي ښکاري او خپل يې نه حسابوي ؟ ولې مسلمانان نن له اسلامي اخوت څخه بې برخې دي ، اسلامي خاوره خپله خاوره نه ګڼي ، د فرضي کرښو په طلسم کې راګير دي ، د اسلامي نړۍ او اسلامي امت له درده بې حسه او بې احساسه دي او د يو سمت او هيواد مسلمانان د بل ملک او وطن د مسلمانانو سره د تربورولۍ او دښمنۍ چلند ؟

آيا دا همدومره وړوکی غم دی ؟

آيا همداسې مناسب ده، چې موږ هم د نورو خلکو په څېر دا غم هېر کړو ؟ آيا اسلامي نړۍ همداسې بې ارزښته ، بې وقاره او بې تاريخه خاوره او جغرافيه ده ؟

چې اوس زموږ نسلونو ته د اسلامي خاورې قلمرو هغه ښکاري چې انګريزانو ورته ټاکلې او بين الملل پرې منلې او د همدغه بين المللي اصولو پر بنسټ يې د دوستۍ او دښمنۍ معيارونه ټاکل شوي ، اوس زموږ نسلونه د اسلامي خاورې قلمرو نه پيژني .

نه داسې بايد نه وي.

د اسلامي نړۍ حدود بايد د هر مسلمان په زړه او دماغو کې نقش وي ددغه حدودو اذادي او دلته د خپلو اسلامي ارزښتونو پالنه او ساتنه

بايد د ټولو ستر ارمان او تمنا وي .

هغه اسلامي نړۍ چې د مسلمانانو د مټو په زور، د وينو په قيمت او د جهاد په برکت آزاده شوې وه ، نن پکې د سور او تور صليبي ځواک واکمني او مستي ده.

بايد هر مسلمان اسلامي نړۍ وپېژني او دا هم درک کړي چې زما مسؤليت تر کوم حده پورې دی زه بايد څه وکړم او زه څوک يم؟ زما تاريخ د اسلامي خاورې تاريخ څه دی ، نور کوم مسائل د دې اړوند دي ، نو په دغه مسائلو بايد د مسلمانانو فرد ، فرد پوهه شي ..

مجاهده او مؤمنه وروره!

اسلامي قلمرو او خاوره د نړۍ مينځ کې پرته ده ، چې د ځمکې ټولو اړخونو سره يې پيوستون شته د ټولې نړۍ بندرونه ،مهم سندونه ،ښېرازه زمکې ، شنې ورشوګانې ، پراخه معدنونه ، کانونه او خزانې همدلته دي .

د هند بحر ته د ننوتلو دروازه په اسلامي خاوره کې ده ، د دجلې ، فرات ،نيجر او نور مشهور سيندونه په اسلامي خاوره کې بهېږي.

يو متل دی چې وايي د شيانو غوره برخه منځنۍ برخه وي نو اسلامي خاوره د نړۍ منځ کې پرته ده او يوه خوا له بلې سره وصل کوي.

دې خاوره کې طبيعي منابع پرېمانه موجودې دي لکه معدنيات، اوبه ، ښکلې هوا ، حيواني او نباتي منابع او داسې نور .

هغه پراخه دښتې چې د عراق، ليبيا ،سوريه ،مصر ،سوډان او پاکستان کې د کرنې وړ دي په اسلامي خاوره کې پرتې دي .

دلته د پطرولو او نورو معدنونو ذخيرې دي .

ټوله نړۍ کې د پطرولو توليدولو کې اسلامي خاوره اوله درجه ده، داسې ويلی شو چې اسلامي نړۍ اوس هم په تيلو کې لمبو وهي .

په اسلامي خاوره کې سره زر ،الماس او يورانيم خورا په زياته اندازه موجود دي .

طبعي ګاز او نور د طاقت هغه ستره او لويه منبع چې لمريزه توانائي ده،په همدې خاوره کې موجوديت لري.

دلته څه دې پاسه زر ميليونه بشري طاقت لرو ،چې د دنيا يو هيواد کې هم دومره بشري طاقت نشته دی، که چېرته دې زر ميليونه سره اخلاص او ايمان يو شي نو بيا تاسې د دوی دکار اندازې ته سوچ کوئ!

طالب او دوی ته ورته تش په نوم اسلامي هيوادونو ته ټوله اسلامي نړۍ هغه ښکاري کوم چې ورته کفارو مشخص او خط کشي کړې وي ،نور خو بهر له هغه څخه يوه لوېشت هم نه سوچ لري او نه به آينده کې فکر وکړي ، عمل خو لا لري خبره ده .

دوی په سيکولر حدودو باندې ايمان راوړی ،نو د دوی ايمان به هم لکه قاديانيان چې کله غواړي اسلام او ايمان راوړي نو اول به اعتراف کوي چې قادياني رسول او پيغمبر نه وه، هغه باندې به کافران کېږي بيا به د دوی اسلام د منلو وړ وي ،نو دا د سيکولريزم په آخور ولاړ او تړل شوي هيوادونه هم بايد اول په دې حدودو باندې کفار شي بيا به د دوی اسلام او استقلال قبلېږي .

عامو مسلمانانو ته بايد دا سيکولر حدود اربعه تشريح کړو او د دوی کشران هم مخاطب کړو چې اوس تاسې له کومې محدودې څخه ځانونه قربانوئ او بيا د کوم معيار او فرمودې په اساس دا نوم ورکوئ چې مونږ مجاهدين او فاتحين يو ، يو ځل سر ګريوان کې ښکته کړئ، چې څه مو فتحه کړي ؟ هغه حدود چې روسيې او بريتانيې درته مشخص کړي دي ؟ هغه مو فتحه کړي او اوس د هماغه نه ساتنه هم کوئ؟

د همدې ساتلو لپاره جنګېدلئ ؟ چې د کفارو تقسيم شوېو پولو څخه دفاع او څوکيداري وکړئ؟ او يو ساتنې هم مخکې ترينه تجاوز ونکړئ ؟

د وطن دفاع يادوئ، کوم وطن لره پوښتنه خو وکړه چې دا وطن

ستا له کوم وخت څخه وطن شو؟ چا درته دا ستا وطن مشخص کړ؟ عجیبه نده وطن ته د مور نوم ورکوي، خو بیا دومره سوچ نه کوي ، چې دا مور دي کومه مور ده ، سکه ده ناسکه ده ، د چا له قوم او قبیلې څخه ده ، چا درته دربښودلې او چا درته دا د مور په نوم نوملوې .؟

طالب ته وایو!

ته هم وایې ارضي تمامیت، ایران هم وایي ، پاکستان ، امریکا ،هند او داسې نور ټول هېوادونه هم وایي تمامیت ارضي ، اسرائیل هم وایي چې زه له خپل ارضي تمامیت څخه دفاع کوم او بیا دا بغاري هم وهي چې د خلکو داخلي مسائلو کې مداخله نه کوو ، لکه نعیم وردګ چې د قطر د دفتر مقابل کې یې دا خبره وکړه چې اسرائیلو سره مشکل نلرو مونږ د چا داخلي موضوعاتو کې مداخله نکوو ،نو خلاصه دا چې ستاسې نوم په تاریخ کې د اجرتي ملیشو په نوم ثبت نه شي نو د چا په نوم ثبت شي ؟ د بین الملل په قوانینو کې راغلي دي ،چې باید د یو بل په کورنیو مسائلو کې مداخله ونکړو، طالب چې بار بار همدا خبره کوي ،نو کفارو ته د هغوی قوانین وریادوي ،چې ستاسې د قوانینو په اساس دا خبره کوو کنه ، ګنې شریعت او اسلامي قانون خو وایي چې مشرق کې یو زنانه او یو مسلمان باندې ظلم وشي د مغرب نه خلک ورځي او ترڅو چې اسلامي نړۍ آزاده شوې نه وي، نو د افغانستان په شمول د ټولو مسلمانانو دا حق دی او دوی باندې فرض دي، چې جهاد وکړي خو طالب دې هر څه ته شاه کړې ده او په یوه ساه همدا وایي : رسمیت، ډالري او قدرت. سیکولر فکر په اسلامي نړۍ کې د خپل پرمختګ لپاره همدغه د وطنیت او قومیت ځانګړي اصطلاحات استعمالوي چې د وطن او قام اصطلاح اوس یوه عامه بلا ګرځېدلې ده. سیکولریزیم همیش همداسې غولوونکې اصطلاحات په شکلو قالبونو کې خلکو ته د دوکې لپاره وړاندې کړي دي ،چې هله وطن د مور حیثیت لري ، وطن حق لري ، وطن آزادي غواړي او غولېدونکی ولس همیش په همدې اصطلاحاتو بار ، بار غولوي.

غولیدلي ملت بیا همیش همدې ناروته لبیک ویلی ، جعلي او ماشیني کسانو ته یې د غازي او فاتح لقبونه ورکړي دي.

مصطفی کمال اتاترک ته د غازي لقب چا ورکړ ؟

د ترکیې ملت همدا ناري یې اوچتې کړې چې د ترکې خالد د عربې خالد تاریخ راژوندی کړ.

همدې د ترکیې خالد! بیا هغه کار وکړ چې ټولې کفري نړۍ نشو کولای ، عثماني دولت یې ړنګ کړ، چې نتیجه کې اسلامي نړۍ ستر ناورین سره مخ شوه هغه کار چې نن طالب بیا تکرار کړ.

د هرخلافت مقابل کې همداسې لوی او مکاره دښمن هم خپل کار شروع کړی دی ، اللـه رب العالمین ادم علیه السلام ته خلافت ورکړ، خو شیطان ورسره دښمني پیل کړه ،تر څو چې ادم علیه السلام باندې خلافت ړنګ نکړ ،نو تر هغې له خپل مکر ، شیطانت څخه لاس وانخست.

نن هم دې انسي شیطانانو د طالب په جامه او نومه د خپل پلار ابلیس لعنة اللـه علیه تاریخ راژوندی کړ او د خلافت مقابل کې یې د منافقت او شیطانت نه ډکه دښمني پیل کړې ده.

طالب د یهودیانو او صلیبیانو هغو پټو پروګرامونو ته پوره غاړه ایښې ده چې په اسلامي نړۍ کې یې د الحاد خپرولو لپاره په کار اچولي دي.

ځکه نن د یهودو ظلمونو مقابل کې د طالب هر چارپای مرې سترګې نیولي او لکه یتیمان خپل ژړا او فریاد بین الملل ته مخ ته کوي افسوس او سل ځله افسوس په داسې نارینتوب(!) مو.

خو دا خبره روزمره
صفا او چاڼ کېږي،
چې طالب د کفارو د
لاس غرګی دی، ګېډه یې
د هغوی په خیراتونو
ډکه ده، معاش او کالي
هغوی ورکوي نو د
هغه چا خبره چې
(کسي نان میته فرمان
میته) طالب ته هم
نن فرامین له بلې خوا
راروان دي، اول 40 میلیونه
کڅوړې راشي او بیا شاته
د پروژې نظارت کونکي
راروان وي او طالب ته
یې د ورکړل شویو
کارونو څخه نظارت او
لېدنه کوي.

څکه یو کس یو کور
جوړ کړ او بیا بې له
ښه او بده او بدون له
دي چې بل کور ځانته
جوړ کړي آیا دا کور
وراڼوي ؟

شل کاله دلته د
امریکا په بودیجه ولاړ
جمهوریت جوړ شوی
وه ،خو کله چې ددې
کور د کرایه نشینو ددې
کور قوانین او اصول
چې هغه جمهوریت او
دیموکراسي ده په ډیر
لګښت تطبیقوله نو
امریکا داسې ونه کړل
چې دا کور له سره رنګ
کړي بلکې د دې کور
ساتونکي ، مامورین یې
بدل کړل او د همدغه
پورژو د تطبیق ارزانه
ملېشې او مامورین کرایه
کړل چې دا دی د همدې
کور آبادولو لپاره هفته
په هفته ټاکلې مقدار
ډالر په مختلفو نومونو
رالېږي ، چې امریکا یې
افغانستان سره مرستې
ګڼي او طالب یې بیا
بشري مرستې ګڼي
چې دا څه موده د دواړو
په سلا او مشوره ددې
مرستو د اعلان څخه
په دې خاطر ډډه کیږي
چې د طالب حیثیت
یې د دوه روپو کړ ،
خو بیا هم وخت په
وخت د طالب څارونکي
ارګانونه ددې پټو پیسو
مقدار اعلانوي لکه
سیګار چې تازه اعلان
کړه چې امریکا له
طالب ملېشو سره په
تیرو دوه کلونو کې ۱۱
میلیارده ډالر مرسته
کړې ، عجیبه ده د خلکو
د غولونې او طالب سره د
جعلي دښمنی د تمثیل
په خاطر امریکا له
یوه لوري د افغانستان
هغه شتمني چې د
همدې امریکا ده کنګلوي
خو بل لور ورته بیا
له هغې زیات ډالر
رالیږي

دا خو هغه ډالري دي
چې رسنیزي کیږي
هغه چې مخفي دي
هغه نو یوازې همدې
جېره خورو او امریکا
ته مالوم دي .

نو امریکا دا ځل غواړي
چې په خپلو دومره
مصارفو باندې داسې
یو کور آباد کړي
چې ټولو ته د منلو
او خوښۍ سبب وګرځي
داسې ظاهر به یې
په اسلامي رنګ ورنګ
کړي، چې د کور په
داخل کې کوم پټ
کفریات دي چې په
آسانی سره څوک په
هغې باندې خبر هم
نشي، خو دالله متعال
قانون بدل دی چې دا
خبره یې کړې : کفار
خپلو وعدو باندې ندي
ولاړ طالب ملیشو خو
ډېر کوشش کولو چې
دا معامله یې کفارو سره
رسوا نشي خو کفارو
سم بربنډ کړل او اوس
یی نو کفر هر چاته
ښکاره شوی دی .

طالب هم د خپل
حکومت ظاهري خیره
روښانه معرفي کوي
خو داخل کې د چنګیز
د نظام نه هم تیاره دی
دلته هم خلک شمېرل
کېږي خو ټولېږي نه.

د طالبانو دا دویم ځل
راتګ ته بیا یو تعداد
خلکو دا فکر کولو
چې راتګ سره یې لکه
وریدونکی باران به
شنه او سره باغونه را
تازه شي خو خبر نه
وو، چې د دوی راتګ
هغه عذاب لرونکی باد
وه چې څه وو، هغه یې
هم له بیخه وچ کړل
د دوی جیبونه او نسونه
له هغه تیرو ډیر ستر
دي پوره اوښان په بډو
وهي .

دوی هغه ښاماران دي
چې تل یې اسلامي
امت ته په شهدو کی
زهر وریپچکاري کړي
دي .

دا داسې ښاماران دي
چې هر وخت د دوی
حقیقت راښکاره شوي،
دوی رنګ او مخ بدلوي .
د دین څخه د یوې
انتقالي دورې په شکل
استفاده کوي اوبس.
یو وخت کلیسا هر څه
ځانته انحصار کړي
وو، ملایانو به د دین
څخه د مال راټولولو
لپاره استفاده کوله
نن طالبان هم د هغه
پاپانو په نقش قدم

روان دي، او د دين څخه د قدرت ساتلو او لاسته راوړلو لپاره استفاده کوي .

ځکه نو طالبانو نه يوازې جهاد بدنام کړ آينده به اکثره بيا د جهاد نوم وانخلي که څوک يې اخلي نو د نړۍ ملحدين به طالب په مثال کې وړاندې کوي چې دوى هم د جهاد په نوم د څومره خلکو څخه قرباني واخيستله او نن بيا د ديموکراتانو څخه ذليله او پست او د نړۍ کفارو ته لاس په نامه ولاړ او کوشش يې هغوى ته چوکيداري ده.

بلکې بل لور ته يې شريعت هم بدنام کړ هغه داسې چې دادى خلک وايي دا دى اسلام نظام راغلى خلک لمونځ کوي ، روژه نيسي تش په نوم د امر بالمعروف وزارت دي هر ورځ د شريعت تطبيق خبره کوي خو بيا هم غلا ورکه نشوه ،بى حيايي ورکه نشو ، فقر راکم نشو ، اخلاقي فساد لا زيات شو هماغه پخوا چې کوم فسادونه وو اوس هم څه په درز کې صعود طرف روان دي ، نه حدود شته ، نه کفارو سره قتال او دښمني شته ، نه مسلمانانو باندې رحم او صلهٔ رحمي شته، نه د شرک او مشرکانو په خلاف مبارزه شته بلکې د مشرکانو پالنه او ساتنه کيږي، د الله عزوجل احکام په ډيره سپين سترګى تحريفيږي ، تبديليږي او سودا پرې کيږي ، نو که بيا سبا څوک دا خبره ملت ته کوي چې جهاد فرض دى او اسلامي نظام بايد قايم شي نو هغوى به ورته بيا د دغه دروغجنو تاجرانو نوم ورکوي او د طالب جهاد! او شريعت به ورته مثال کې وړاندې کوي.

خو الله رب العالمين به دا ظالمان لا زيات شرمنده او رسوا کوي دوى ته به عبرتناکه سزا يا خپله او يا د مجاهدينو په لاسونو ورکوي او عام ملت هم بايد په دې د حق او باطل معرکه کې دمجاهدينو لاس ونيسي ځکه کوم طرف چې حاکمان ښکاره ګناه ته ملا وتړي ، نو عام خلک ډير زر د هلاکت کندې ته غورځيږي الله تعالى فرمايي.

وَإِذَا أَرَدْنَا أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا ﴿16﴾ الاسراء

د طالب په کړنو نن سبا هر مومن شرميږي ځکه د دوى د رژيم نوم امارت اسلامي دى ،خو غير اسلامي کار باندې هيڅ عار نه محسوسوي ، نوم يې اسلامي دى ، خو د اسلامي کارونو څخه يې غير اسلامي کارونه زيات دي او دوى هم ورته خوشاله دي.

ځکه په دې لا اسلامي نظام کې اوس د حق معيار او د قانون مصدر د خلکو خواهشات او غوښتنې دي، بس د الله رب العالمين رضايت يې شاته غورځولى، د خلکو رضايت پسې دي خو بايد په دې خفه نشو ځکه د دې مشرکانه نظام بنسټ همداسې ايښودل شوى دى .

خو دې مشرکانو ته وايو چې الله رب العالمين رسولان همدې لپاره راليږلي ول چې ستاسې په څير په شرک اخته نظامونه ړنګ کړي چې نن سبا دا وظيفه د مجاهدينو ده او ان شاءالله چې مجاهدين به مو د الله په مرسته بيخ کندې ضرور کوي خير که لږ وخت وروسته شي.

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿33﴾ التوبه

اسلام خپل ځانته ځانګړى او ممتاز نظام دى او د بشريت له پاره پوره علاج لري او هر زمانه کې د عملي کولو لياقت الله رب العالمين ورکړى دى.

اسلام عربي او افغاني دين نه، بلکه نړيوال دين دى دلته اساس د الله رب العالمين حاکميت منل دي او اسلام سره متضادو نظامونو کې حاکميت د بشر او بين الملل لاس کې دى چې دا دواړه سره نه يوځاى کيږي.

په سياسي اصطلاح کې اعلى اقتدار او مطلق ځواک ته حاکميت وايي نو په دې اساس هغه څوک چې اراده او خوښه يې، د قانون سرچينه او حکم يې په ټولو لوړ

وي اعلى حاكم ورته ويل كېږي ، اسلام كې ورته تشريعي حاكميت يا د قانون حاكميت هم وايي.

اسلامي نظام كې لومړنى شرط او اساس همدا دى چې حاكميت او اعلى اقتدار د الله رب العالمين يو صفت دى دلته د قدرت سرچينه د بشر عقل نه بلكه دى الله رب العالمين لخوا رالېږل شوى قانون دى. د حاكميت عامه معنى دا ده چې امر او نهى په مطلق شكل سره د الله رب العالمين لخوا وي . هغه فرمانونه چې هغه كې امر او نهى الله رب العالمين خپل بندګانو لپاره رالېږلي همدېته الهي شريعت وايي او د هغه رالېږونكي ته شارع يا قانون جوړونكى ويل كېږي. خو طالب دي الهي شريعت ته شاه كړې ده، دوى شارع د الله رب العالمين په عوض بين الملل نيولى دى ، دوى د الله رب العالمين لخوا رالېږل شوي امر او نهې په ځاى د بين الملل قوانينو باندې حوالې وركوي د جينوا او نورو كانفرانسونو پرېكړې چې كفارو كړي هغه باندې استناد كوي او هغه دليل لپاره مخته كوي چې دا ټول د جاهليت نه ډک او الهي شريعت سره مخالف قوانين او فرامين دي .

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿50﴾

د دې آيت څخه دا څرګنديږي چې د انسان په لاس په جوړ شويو قوانيو باندې پرېكړه كول جاهليت دى او شرعي قانون يو بهترين قانون دى چې بايد فيصلې په همدې باندې وشي.

اوس تاسې جواب وكړئ چې امارت لا اسلامي كې امر او نهى له كومې خوا څخه راځي ؟ ساده الفاظو باندې دا مسئله بيان شوه ترڅو هر كس د اسلامي نظام خصوصيات او صفاتو باندې پوه شي او مقابل كې طاغوتي تش په نوم نظامونه چې د اسلام په نوم يې د اسلام بيخ كندى ته ملا تړلې هم خه وپېژندل شي.

اسلامي خلافت كې هدايت د الله متعال لخوا نه راغلى او طاغوتې امارت بيا خپل هدايات د بين الملل له كفري مرجع څخه اخلي تل ابليسي نظامونو د خلافت په وړاندې مقابلې ته رادانګلي او په تكر كې واقع شوي دي.

د ابليسي نظام اصول لاندې ډول سره دي.

1. **آبى** : انكار يې وكړ (نه يې منم.)
2. **واستكبر:** تكبر اوغرور يې وكړ.
3. **وكان من الكافرين** : د مخ اړونكو او نه منونكو له ډلې شول.
4. **انا خير منه:** زه له ادم عليه السلام نه غوره يم مطلب زه ډېر لياقت لرم.
5. **لأقعدن لهم صراطك المستقيم:** يعني هر راز دښمني ورسره شروع كوم او له هرې لارې نه ورباندې راتاوېږم.
6. **هل أدلك على شجرة الخلد و ملك لا يبلى:** د مكر او فريب له دروازې راغى او قسمونه يې شروع كړل.

اول آبى: ابليسي سياست كې اول اصل همدا دى چې د شرعي قانون د فوقيت څخه انكار او د الله جل جلاله حكمونو څخه مخ اړول كوي، لكه نن چې طالب دا كار شروع كړى دى كفارو او نړۍ سره د شريعي سياست په اساس نه بلكه د بين الملل كفري قانون په رڼا كې تعامل او معاملات كوي .

دويم واستكبر: تكبر يې وكړ لكه څرنګه چې نن طالب مليشې د غرور په خره سپاره دي بره ګوري خو لاندې ورته څوک نه ښكاري. د غرور په نشه كې دومره ډوب دي، چې صراحتاً د الله رب العالمين له رالېږل شوي دين څخه لكه يهود اعراض كوي.

دريم وكان من الكافرين: او د نه منونكو له ډلې څخه وو، لكه نن چې طالب ته ګومره هم د دوى كفر او ارتداد واضح كوو بيا هم مخ اړوي او د حق منلو څخه انكار كوي .

څلورم انا خير منه: ابليس به ويل عقل دا نه مني چې يو اعلى نسب او نژاد پرځاى ښكته او ادنى نژاد ولا ته د ځمكې خلافت وركړل شى، بس عقلونه او منطق يې سره جنګول او د حق مبارزې لپاره يې په خپل ګمان دليلونه راټولول لكه نن چې طالب خپل باطل نظام ته د حق څادر ور اغوندي او ګمان كوي چې دې سره به خلک ګمراه كړي ، باطل ته د حق رنګ او جامه وركول

دا ابلیسي پالیسي ده، چې نن یې انسي ابلیسان د طالب په نوم عملي کوي.

پنځم: لأقعدن لهم صراطک المستقیم: مسلمانانو سره یې د جګړې اعلان وکړ او دا اختار یې ورکړ چې هېڅ ځای کې به راڅخه ارام پاتي نه شئ، لکه څرنګه چې نن طالب مجاهدینو او مؤحدینو ته دامریکا په مشرۍ دا ګوته څنډنه کوي چې مجاهدینو مو ختم کړل هېڅ ځای کې دوی نه پرېږدو او داسې نور د کفارو خوشالۍ لپاره ډول ډول ځرګندونې او فعالیتونه کوي.

خو شاهین هېڅکله د تل لپاره په پنجره کې نشي بندي کېدای نو ځکه دوی داسلامي دولت څخه ډار محسوسوي .

۶ هل ادلک علی شجرة الخلد و ملک لا یبلی: ابلیس خپل لومړی کار له منافقت او رزالت څخه پیل کړ ، په چل او مکر باندې یې دوکه وکړه لکه نن چې طالب مکر او رزالت باندې عام مسلمانان دوکه کړي دي، ابلیسي نظام یې ورته شرعي نظام او له خپل وحشي ملیشو څخه یې دوی ته خیرخواه جوړې کړي دي او همدا ابلیسي بغاري وهي او قسمونه کوي چې مونږ ستاسې خیرخواه یو خو اصل کې دوی فسادکونکي دي. **وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ** ﴿21﴾

خو لکه څنګه چې الله رب العالمین د ابلیسي نظام مشر ته وویل: اخرج منها مذوما مدحورا... داسې به یو ورځ الله رب العالمین دا ننۍ ابلیسي نظام هم ذلیله کوي او ورک کوي. ان شاء الله د امارت په چینه کې د ارتداد بلا داسې ګډېږي چې ته به فکر کوې دا د آزادۍ خیالي شاپېرۍ ده .

خو د طالب نه سوال کوو چې:

د اسلامي نظام بنسټ توحید دی تاسې چې توحید سر دښمني شروع کړې، کفر ته دعوت کوئ او شرک ته مو د تائید رسمي مهر ورکړی نو په کوم اساس تاسې مسلمانان یاست؟

او دا ګیله هم درڅخه نکوو چې تاسې جهاد باندې بندیز ولګولو ځکه تاسې مخکې چېرې جهاد کولو چې اوس مو ورایو ولې مو بند کړ، خو تاسو جهاد ته تپل شوې جنګ وایي او دا خبره کوئ چې جګړه زموږ اراده نه وه نو بیا هم که بلفرض والتقدیر چېرې د فتحې نه ورسته جګړه ختمه اعلانېدای او جهاد باندې بندیز لګېدای، نو بیا ولې رسول الله صلی الله علیه وسلم اتم کال کې لس زره کسانو سره مکه فتح کړه؟ په داسې حال کې چې صلح حدیبیه شپږم کال کې وه. وروسته د مکې له فتحې څخه یې 12 زره کسانو سره د حنین غزا ته ولې ولاړ؟

نهم کال کې 30 زره کسانو سره تبوک ته ولې لاړو ؟

طائف غزا کې د 12 زره کسانو سره یوځاې ولې شرکت وکړ ؟

نو طالب ملیشو ته وایو چې وروسته له صلحې اوس نورو کفارو سره جګړه ختمول پکار دي که تازه کول؟

خو هغه زړونو کې چې جنسي غرایز او د لهو و لعب اور پکې لمبې وهي هېچکله هم ممکن نه ده چې د جهاد ستړیاو ته تیار شي الا من رحمه ربي او پرته له جهاد څخه د اسلامي نظام بقا لامحاله ده.

اسلام صرف په اندلس باندې اته پېړۍ حکومت کړی دی هغه وخت هلته د روښانه تمدن خبرې کېدلې چې ټوله اروپا د جهل په تیارو کې ډوبه وه.

اورپایانو به اندلس کې درس ویل یو افتخار ګڼلو خو همدا اندلس مخکې د نظامي شکست څخه د فکري ماتې سره مخ شو.

هغه فلسطین چې د آسماني دینونو د نازلېدو خاوره ده، فلسطین ، قدس او هغه مسجد اقصی چې الله رب العالمین یې صفت او عزت باره کې داسې فرمایي الذي بارکنا حوله نن د یهود لخوا د مسلمانانو قتل عام په کې روان دی.

اسلامي نظام د مسلمانانو ارادې ژوندی ، عقل او زړونه یې ورته تازه کړل

خو د قومیت فکر ته رشد ورکول دا د سیکولریزیم لخوا لویه توطئه ده، چې نن سبا امارت لا اسلامي ورته کارکوي.

لومړی ځل کله چې یهودیانو مشوره وکړه چې باید فلسطین ته داخل شو نو د مشورې نه وروسته دوی عثماني

دولت ته يو هيئت ولېږلو او هلته سلطان عبدالحميد سره يې ملاقات وشو او درې وړاندېزونه يې ورته وکړل:

لومړی: 133 میلیونه سره زر چې عثماني دولت قرضدار دی دا اداء کوو.

دوهم د عثماني دولت پرمختګ لپاره به 120 میلیون فرانسوي فرنک کمک وکړو .

درېیم: 35 میلیونه لیره په ارزښت سره زر عثماني دولت ته ددې لپاره چې ستاسې اقتصاد لا پیاوړی شي پور درکوو.

صرف تاسې په بدل کې دا امضا وکړئ چې موږ کولی شو بیت المقدس ته داخل شو او هلته وخت تېرولی شو .

تاسو وګورئ ټول وړاندېزونه په مال باندې څرخېږي نو کفارو همیش د اشغال شروع د مال څخه کړې ده ، مال باندې يې ځانته زر خرید غلامان تيار کړي او بیا د همدې مزدورو واکدارانو په مټ يې خپلې ريښې مظبوطې کړې دي .

لکه طالب چې د هغته يې 40 میلونې کڅوړو مقابل کې يهودو ته ټوله نړۍ ورخوشې کړې ده . هغه وخت يې صرف د اوسېدلو اجاره اخيستله خو اوس سرې سترګې بمبار کوي او طالب دی چې په دې کلکو کلکو ټکو غندنه کوي اوبس. دا لا څه کوئ هغته کې خامخا يو ځل نړۍ ته اطمينان هم ورکوي چې ستاسې ډالر ډېر خواږه او موږ ته ملهم دي، موږ دا کله له لاسه ورکوو او هميش به ستاسې امن ساتو ، تاسې لپاره به خپلې ګنده وينې تويوو او ستاسې څخه به هم داخل کې ميلمه پالنه کوو او هم بهر کې مو امنيت ساتو.

د طالب په دې مصنوعي شعارونو باندې نور څوک نه دوکه کېږي شل کاله يې خلک استعمال کړل خو آخر هم رب العزت ترېنه د اسلام او جهاد کميس وويستلو داسې لغړ او بربنډ شول چې نور د اسلام او جهاد د نوم په اخيستلو باندې هم شرمېږي خپلو مردارانو ته د وطن د شهيد نوم ورکوي اسلام ته خو په وجدان کې پوره خجالت او تورمخي دي..

خو دوی ته باربار موږ دا خبره کوو چې الله رب العالمين هميش حق غالبه کړې دی، ولو که وخت هم واخلي نو تاسې به هم يو ورځ ذليله کېږئ او د حق خلافت مقابل کې به شرمنده او رسوا ياست.

بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ ﴿18﴾

عام مسلمانانو ته وايو چې په تاسې باندې الله متعال د اسلام او ايمان انعام کړی دی داسې د طالب په حمايت او نصرت کې خپل ايمان مه بربادوئ بس د خپل ايمان خيال کوئ که د مجاهدينو نصرت نه شئ کولای نو د هغوی دښمنانو سره هم مه يو کېږئ او ځان بې طرف ونيسئ . لکه څنګه چې الله رب العالمين د موسی عليه السلام باره کې فرمايي چې هغه وويل : زه به هيڅ وخت د مجرم سرې مدد ګار جوړ نه شم نو بيا د مرتد او طاغوتي نظام همکاري خو لويه ګناه او بلکه کفر دی.

قَالَ رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ ﴿17﴾

ژباړه : موسی عليه السلام ژمنه وکړه ، اې زما ربه ! دغه احسان چې تا پرما باندې کړی دی، له دې وروسته به زه هيڅکله زه د مجرمانو ملګری نه شم.

نو له عامو مسلمانانو څخه مو غوښتنه ده چې د طالب ملېشو له جرمونو ، اسلام سره د دوی د خيانتونو ، مسلمانانو سره د دوی له وحشتونو کفارو سره د دوی د دوستۍ او خوږو مجلسونو څخه ځانونه خبر کړي ، دوی د اسلامي دولت اعلام تعقيب کړي نو په دې به يې سر خلاص شي او په دې به قانع شي چې طالب ملېشي هغه غليظ مرتدين دي چې له اصلي کفارو يې اسلام ته نقصان او ضرر زيات دی .

نو عام مسلمانان بايد د دوی په غولونکو خبرو دوکه نه شي د دوی اعمال د قران او سنت په تله وتلي او تحقيق او پلټنه وکړي نو ورته به څرګنده شي چې په اوسني وخت کې طالب مرتدين د کفارو نيابتي ملېشې او د کفارو د کټو ساتونکي اربکيان دي .

1

خراسان د مرتدینو مقبره

د باجوړ د اتلو چریکیانو له کارنامو راونیسه د خراسان په شمال کې د اسلامي دولت د سربښندویانو د کاري ګوزارونو بشپړ **میاشتینی راپور**

- په تېره نږدې یوه میاشت کې د خراسان په ولایت کې د اسلامي دولت د مجاهدینو له لوري د خراسان په لر او بر کې ګڼ شمېر پوځي عملیات تر سره شوي چې په کې دښمن ته درانده مالي او ځاني تلفات اوښتي دي، د مجاهدینو د تېرې یوې میاشتې اتلوالو بریدونو ته د خراسان غږ مجلې ځغلنده کتنه کړې ده.

- د اسلامي دولت مجاهدین د آسیا په ختیځ کې د فلیپین نه د افریقا تر لویدیځ نایجیریا پورې د اعلاء کلمة الله په پار د وخت د طواغیتو او صلیبي پوځونو سره په ګرمه معرکه بوخت دي.

- د دغه معرکې یو ډګر د خراسان خاوره ده، چې مجاهدین پکې همیشه د میشتو طواغیتو، نجسو روافضو او د صلیب د ګوډاګیانو او لاسپوڅو پوزې په خاورو خړوي او هر ځل د دوی د باټو او د فتحو له اعلانونو وروسته داسې مضبوط ګوزارونه ورکوي چې د طواغیتو څخه لار ورکوي.

تېره میاشت د اسلامي دولت مجاهدینو په باجوړ، کونړ، بغلان او کابل کې پر موجوده طواغیتو لږ تر لږه **10 اتلوال بریدونه** تر سره کړي دي چې پکې له **160** پورته روافضو، طالب ملېشو، جواسیسو او نورو مرتدینو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. په یادو بریدونو کې چیریکي بریدونه، غلچکي امنیتي بریدونه، بارودي ماینونه او استشهادي برید شامل دي.

2

خراسان د مرتدینو مقبره

د باجوړ د اتلو چیریکیانو له کارنامو راونیسه د خراسان په شمال کې د اسلامي دولت د سرښندویانو د کاري ګوزارونو بشپړ **میاشتینی راپور**

د اسلامي دولت مجاهدينو کابو یوه میاشت وړاندې د کونړ ولایت په ځوکۍ کې د مرتدو طالب ملېشو یو ځايي جاسوس ژوندی ونیو، چې له تحقیق او اعتراف وروسته يې ضربه کړ او ويې واژه، مجاهدينو يې ټوپک او پوځي مهمات هم غنیمت کړل.

د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې د اسلامي دولت يو اتل استشهادي بریدګر "سیف الله المؤحد" (تقبله الله تعالی) وتوانېد چې د بغلان ولایت په مرکز کې د روافضو تر ټولو مهمې تکیه خانې (امام زمان) ته ځان ورسوي، هلته يې د ګڼو روافضو په منځ کې خپل بارودي کمربند ته چاودنه ورکړه چې په ترڅ کې يې له 100 زیاتو روافضو ته مرګ ژوبله واوښته چې په تلفاتو کې د بغلان لپاره د روافضو د علماوو شورا رئیس هم ګډون درلود، ورپسې په یوه اونۍ کې دننه د کابل په دشتي برچي کې د اسلامي دولت د بارودي کتیبې سرښندویان وتوانیدل چې د روافضو په یوه ورزشګاه او یوه لوی بس کې چاودیدونکي توکي ځای پرځای کړي او بیا ورته چاودنه ورکړي، چې په یادو دواړو چاودنو کې د رسمي سرچینو په وینا له 70 زیات نجس روافض مردار او ټپیان شول.

بل لور ته په باجوړ کې هم د اسلامي دولت چیریکي مجاهدينو د یادې سیمې په لر او بر کې د ګڼو مرتدینو له بدنونو د تفنګچې مرمۍ وویستې او ځینې يې په ماینونو لولپه کړل.

تېره میاشت د باجوړ چیریکي سرښندویانو پنځه اتلوال بریدونه ترسره کړل چې د پاکستاني حکومت د خبیثې آی ایس آی د دریو استخباراتي کارمندانو ترڅنګ يې د طالب ملېشو هغه دوه غړي هم له تیغه تېر کړي چې کلونه وړاندې د اسلامي دولت د مجاهدينو پر ضد په کونړ او ننګرهار کې جګړو کې برخه اخیستې وه او طالب ملېشو ته يې د وسلو په انتقال کې مهم رول لوبولی و، خو دا دی لله الحمد کلونه وروسته د خپل شوم عمل په سزا ورسېدل او مجاهدينو ترې د خپلو وروڼو او خویندو غچ واخیست.

3

خراسان د مرتدينو مقبره

د باجوړ د اتلو چيريکيانو له کارنامو راونيسه د خراسان په شمال کې د اسلامي دولت د سربښندويانو د کاري ګوزارونو بشپړ **میاشتینی راپور**

مجاهدينو په باجوړ کې تېره میاشت د لشکر خبیثه یو تن مرتد هم وژلی و، چې د لشکر خبیثه د عضویت ترڅنګ په سیمه کې د مسلم لیګ جمهوریت پال طاغوتي ګوند مخکښ غړی هم و، چې بالآخره مجاهدینو د هغې سپېڅلې جګړې په لړ کې وواژه کومه جګړه چې اسلامي دولت د باطلو نظامونو په ځانګړې ډول د جمهوریت، سیکولریزم او دیموکراسۍ او د دغه باطلو نظامونو د مدافعینو د ختمولو او د شرعي نظام د اقامې په پار پیل کړې ده.

د تېرې میاشتې په وروستیو کې مجاهدین وتوانیدل چې د کونړ ولایت په نرنګ سیمه کې یو ماین ځای پرځای او د طالب ملېشو د پلې ګزمې د تېریدو پرمهال ورته چاودنه ورکړي، چې د ماین د چاودنې په ترڅ کې د مرتدو طالب ملېشو یو غړی ټپي شو، ولله الحمد والمنّة.

- د یادونې وړ ده چې په وروستیو کې په خراسان کې د اسلامي دولت د مجاهدینو بریدونو په داسې مهال زور موندلی چې بار بار د مرتدو طالب ملېشو او پاکستاني مرتد حکومت لوړپوړي چارواکي له سیمې څخه د اسلامي دولت د مجاهدینو د بشپړه ختمېدو ادعاوې کوي، خو وروستیو اتلوالو بریدونو یو ځل بیا د طواغیتو ټولې ادعاوې ناسمې ثابتې کړې او د دوی پوزې یې په خاورو سپېرې کړې، او د مرتدینو هغه خوشالۍ یې په سینه لاهو کړې چې وروستیو کې ورته د صلیبي طواغیتو د هغه شاباسیو له وجې رسیدلې وې چې دغو ملېشو او طواغیتو ته یې صلیبي

- په خراسان او سیمه کې موجوده طواغیت او په ځانګړې ډول د ایران او پاکستان موجوده طواغیت دې پوه شي چې د مجاهدینو د مخنیوي په پار د دوی ټولې هڅې بېځایه دي، او که طالب ملېشې ستاسې د طاغوتي حکومتونو مخې ته هر څومره د شګو بندونه جوړ کړي، تاسې د مجاهدینو له کاري ګوزارونو نه شې خوندي کولی او ژر ده چې د غازیانو تېرې تورې ستاسې تر مریو در ورسیږي؛ باذن الله تعالی.

لنډه کیسه :
د سنګر او دفتر زلمی

د خراسان تمکین ته مو د هجرت تازه شپې ورځې وې، د مسلم مولوي صاحب تقبله الله په مرکز کې وم، نور میلمانه هم راغلي وو، میلمنو ته مې د چایو ګلاسونه ډک کړل او کیناستم چې په دروازه دوه ځوانان په داسې حال کې را ننوتل چې موسکا یې په خوله خپره وه، د یو یې لوړ قد نوراني څهره او اوږده ږیره وه او د کیپ خولۍ یې په داسې شکل په سر کړې وه ،چې هغه کیپ یې شاته تاو کړی وو، او بل یې سور سپین مخ، نوارني څهره د هغه بل په نسبت یې ږیره کمه او رنګۍ وه او قد او عمر یې هم د هغه بل په نسبت لږ کم و او د سر څخه یې دستمال تاو کړی و، دواړو سلام وکړ او ټولو ملګرو ورسره روغبړ وکړ، د چایو څخه مو ورته ګلاسونه ډک کړل او د چایو کلکه میوه مو ورته مخې ته کېښوده، دواړو سره مسلم مولوي صاحب تقبله الله خبرې اترې پیل کړې، د ملګرې نه مې وپوښتل چې دا څوک دی، ملګري راته وویل دغه چې د سر څخه یې دستمال تاو کړی دی عمر ګل دی، عمر ګل تقبله الله که څه هم د عمر په لحاظ کم وو خو چې خبرې یې شروع کړې نو دومره پوهه شوم چې له خپل عمر څخه زیات علمیت او متانت لري ، خبرې یې ډیرې علمي ، درنې، خوږې اوپخې وې ، د نظام په اړه یې داسې ښکلې او کمالي خبرې وکړې چې ډیر څه مې ورڅخه زده کړه او داسې ښکلې خبرې چې دغه شان خبرې ما ددې څخه مخکې اوریدلې هم نه وې ، تعجب مې وکړ چې سبحان الله!! په دومره کم عمر کې داسې د معنویت او کمال څخه ډکې خبرې کوي، فکر مې وکړ چې الحمدلله خلافت ته چې څوک هم راغلي ،نو ښه په بصیرت الله تعالی راوستي دي، او لله الحمد ټول

ورته پوه، هوښیار او د بصیرت خاوندان الله عزوجل راجمعه کړي دي،عمرګل نو رښتیا هم وروسته بیا ثابته کړه چې د مختلفو علومو بهر دی ، په مختلفو برخو کې ځانګړې مهارتونه درلودل او ډیری وخت به د مشرانو له لوري په ډیرو خاصو او حساسو دندو ګمارل کیده ، عمر ګل تقبله الله به ډیری وخت مرکز ته راته، نبک او خوږ مجلس به یې کاوه، عمر ګل تقبله الله ته الله تعالی داسې بلاغت او فصاحت ورکړی و، چې هر انسان به یې په ښایسته انداز کې په خبره پوه کاوه، د دې وجې څخه د عمر ګل تقبله الله د دعوت په وجه الله عزوجل ډیر مؤحدین د خلافت سپیڅلي کاروان سره یو ځای کړي وو، کله به هم چې په کوم ځای کې د اسلامي خلافت مجاهدینو د الله تعالی په دښمنانو تعرض کاوه، نو عمر ګل تقبله الله به د انغماسي په شکل په تعرض کې برخه اخیسته، عمر ګل تقبله الله تقوا دار، بهادر او د نیکو اخلاقو خاوند و، هر چا سره به په ورین تندي او خندا میلاویده ډیری وخت به عمر ګل تقبله الله د صحابه کرامو د شجاعت او بهادری کیسې بیانولې، هر مجلس به یې داسې ښکلي او ایماني و، چې د سړي زړه به پکې خوشحاله و، د عمر ګل تقبله الله یو مشر ورور هم خلافت ته هجرت کړی و،چې بیا هغه ته الله عزوجل شهادت ور په برخه کړ الله تعالی دې هغه قبول کړي.

په هر مجاهد کې به چې کومه نیمګړتیا وه نو عمرګل تقبله الله به ورته په ګوته کوله، او د اصلاح کوښښ به یې کاوه.

د حق په بیانولو کې د ملامته کوونکو د ملامتیا څخه نه ډاریده، او په هر ځای کې به په حق کلک ولاړ او طرفدار و.

عمر ګل تقبله الله سره مې ناسته پاسته زیاته شوه او تردې کچې مو سره ملګرتیا ورسیده چې اکثره وخت به سره یو ځای وو، په تمکین کې د هجرت خوږې شېبې تیریدې، امریکا او د هغوی مرتد ګوډاګیان د اسلامي خلافت د ګوزارونو څخه په تنګ راغلي وو او هر ځای کې به وربانديې د خلافت ننګیالیو شازلمو تندریز ګوزارونه کول، امریکا او د هغوی مرتدو غلامانو هر ډول زور وازمایه، د خلافت په دغه کوچنۍ ساحه یې هر ډول درندګان کمانډویان، زربتیان، اربکیان په داسې حال کې را واچول چې هر ډول الوتکو ډرونونه (بې پیلوټه الوتکه)، جیټان، هلیکوپټري او چار ماشینو یې ملتیا کوله، د بل طرفه به یې د هوایي ډګر څخه بې شمېره کروز میزایل هم د اسلامي خلافت په خاوره را ورول، خو د الله تعالی د دین پتنګانو په سنګرونو کې ځانونه لولپه کړل ،لیکن دښمن ته یې نه سر ښکته کړ او نه یې هم سنګر پریښود، د اسلام دښمنانو په هر وخت او زمان کې په مؤمنانو وحشت ښکاره کړی دی، دلته یې هم د یو مخې بمبار وکړ، نه یې ماشوم ته کتل او نه یې هم زنانه ته کتل، نو مجاهدینو دغه ساحه د یو څه وخت لپاره پرېښودله، عمر ګل تقبله الله زمونږ څخه جدا شو او بلې سیمې ته ولاړ او هلته د مشرانو له خوا په ورسپارل شوي خدمت بوخت شو، مونږ په همدغه ساحه کې وو، او مجاهدینو به په دښمن چریکي ګوزارونه کول، چې څه وخت وروسته الله عزوجل پخپل خاص نصرت سره کفار او مرتدین ذلیل کړل او د دغه ساحې څخه په تېښته شول، مجاهدین او مهاجرین بېرته خپلو ځایونو ته واپس شول او پدغه ساحه کې یې د الله تعالی شریعت پلي کولو باندې بوخت شول، څه موده وروسته مونږ ته امر وشو چې تاسې بلې سیمې ته لاړ شئ، هغه سیمه کومه کې چې عمر ګل تقبله الله هم و، بیا د عمر ګل تقبله الله سره الله تعالی یو ځای کړم، د تمکین په دغه سیمه کې هم د امریکایانو او

کماندویانو کډ عملیات روان وو، هوا به د الوتکو څخه نه خالي کیدله، هر ډول الوتکو به خپل زړه تشاوه، یوه ورځ امریکایانو او کماندویانو کوشش کاوه، چې د خلافت په ساحه هجوم وکړي، خو د ګوتو په شمېر انغماسي شازلمیو داسې ګوزارونه ورکړل چې د دښمن نه یې وار پار خطا کړ، او پداسې حال کې په تېښته شول چې مرداري ورڅخه په میدان پاتې شوې، دښمن د ډېرې وارخطايي په وجه هر طرف بمبار شروع کړ، نو پدغه وخت کې یوه بد رنګه الوتکه چې ډېره غټه وه راغله او د رسېدو سره سم یو شراری جوړ شو الوتکه ډېره لرې ولاړه خو شراری لا هماغه شان موجود وو چې د غره په سر یې یوولس ځای داسې غټ غټ بمونه وغورځول چې ډېر بې حده لوی وو او ټول غرونه په ګردونو کې پټ شول، ما عمر ګل تقبله الله ته مخ ور واړوه مال دا څه وه ډوله بلا وه، ویل پې لکه چې B52 الوتکه وه که بل شی ، په خندا ي دا د وارخطایي نه ورڅخه بټن تینګه شوه او دومره زیات بمونه یې وغورځول، ددې څخه معلومیږي چې دښمن ته ښه درنه مرګ ژوبله اوښتې ده، او دا د دښمن اخري زور دی نور ذلیله دي ان شاء الله، بیا په میډیا کې مو واورېدل چې دولس کماندویانو په شمول غالباً یو که دوه امریکایان هم مردار شوی وو.

د دې څخه مخکې یې د دغې سیمې په شاوخوا کې تر ټولو ستر بم د بمونو مور هم غورځولی و، خو دې ورته هېڅ فائده ورنکړه او په هر ځل به الله تعالی ذلیل واپس کول، دا چې د دغه سیمې لارې امریکایانو بندې کړي وې نو د عمر ګل تقبله الله په مشوره زه د خپلو ماشومانو د راوستلو لپاره بلې سیمې ته لاړم ، زه بلې سیمې ته لاړم هلته وم دا داسې وخت و، چې دښمن ډېر زیات زور لګولی و او هر ډول وحشت به یې ترسره کاوه، نو ماذیګر مې ماشومان راغلل، عمر ګل تقبله الله سره مې رابطه وکړه هغه ویل سبا به حرکت راوکړئ ان شاءالله اوس ناوخته دی او لاره ډېره ده ما هم ورسره ومنله، سهار چای مو چې وڅښلې او ځان مو برابراوه، نو هغه ملګري راته وویل چې دغه نږدې ځای ته ځو، الوتکې ډېرې زیاتې دي الله دې خیر کړي، یوه رابطه به وکړو احوال به واخلو او بېرته راځو بیا به لاړ شئ، زه ملګري سره روان شوم هغه د رابطې ځای ته لاړ زه ورته هلته پدې وجه کېناستم چې بې پیلوټه الوتکو ډېر بد حال جوړ کړی و، چې ملګری راغی راته یې وویل چې نن مه ځه پاتې شه، ما ورته کړه نا الله بنده نن ځم ان شاءالله، کارونه پاتې دي خو ملګری نور حال نه وايي او پدې خبره کلک دی چې مه ځه، اخر مې ورته وویل چې ما او تا خو مشوره کړې وه چې سبا به زه ځم نو اوس څنګه خبره دې بدله کړه، اخر کې یې سوړ اسویلی وکړ ویل عمر ګل رابطه کړې وه چې ده ته ووایه چې ماشومان مه راوله، په تعجب مې ورته وویل چې ولې؟

راته یې وویل چې خبیثانو د الله تعالی دښمنانو ډېر زیات وحشت کړی عمومي بمبار یې کړی ټول کورونه یې بمبار کړي دي او لا هم وحشت روان دی ستا کور یې هم بمبار کړی دی او عمر دوی هم را روان دي، ډېر زیات اندیښمن وم، چې کتل مې عمر ګل تقبله الله راغی او ټوله قیصه یې وکړه چې د الله تعالی دښمن نه ماشوم ته کتل او نه زنانه ته بس د یو مخې یې کورونه بمبار کړل ډېر وحشت یې وکړ، ډېرې زنانه او ماشومان شهیدان شوي دي او دښمن ببخې څوک حرکت ته نه پرېږدي، مجاهدینو د تعرض پروګرام برابراوه، چې په هغوی یې هم بمبار وکړ، الحمدلله ملګري الله تعالی وساتل.

دغه ساحه کې ما او عمر ګل تقبله الله تر یو وخت پورې

کاونډیان وو، عمر گل تقبله الله بیا لومړۍ کربښې ته ولاړ، څه وخت وروسته بېرته راغی عمر گل تقبله الله راڅخه همدلته پاتې شو او مونږ ته بلې سیمې ته د تلو امر وشو، هغه ساحې سقوط وکړ لیکن الله عزوجل مجاهدینو ته نورې پراخه سیمې ورکړې، بیا عمر گل تقبله الله هلته کډه شو، څه موده وروسته مونږ هم هلته ولاړو، دا چې دغه سیمه زما لپاره نوې وه نو د عمر گل تقبله الله په لټه کې شوم، یو چا یې د حجرې ادرس راکړ چې ورغلم دروازه مې ټک ټک کړه، یو ښکلي زلمي دروازه خلاصه کړه، ما ورته کړه مال عمر سره مې کار دی، په موسکا یې راغبرگه کړه ویل لږ صبر وکړه، زلمی ننوت عمر ورته ویل څوک دی نښاني یې ورته ویلې وې پرته د څه شي د پېښو کولو څخه په منډه راغی او په غیږ کې یې ونیولم، ویل یې راځه، حجرې ته داخل شوم یو میلمه بل هم وو، کیناستم ویل دا مې وررور دی یحیی نومیږي او نوی یې تمکین ته هجرت کړی دی، تربیت یې کړی دی پرون د سنگر څخه راغلی او اوس شله دی چې سنگر ته ځم، زه ورته وایم چې خیر دی زه هم غواړم چې لاړ شم راسره نه یې مني، زه ورته وایم چې درې ورځې تېروم دا وایي چې نه بس ستا په ځای هم زه سنگر ته ځم، د غرمې وخت وو عمر گل تقبله الله ډوډۍ پسې لاړ، حجرې ته په رانوتلو سره په موسکا یې وویل: خفگان به پکې نه وي خوراکي شیان مو په کور کې خلاص شوي دي روپۍ مې لېږلي دي خو سودا لا تراوسه نده راغلې، شین چای او لږه ډوډۍ یې راوړې وه هغه مو د چایو سره وخوړه، ښه مجلس مو سره وکړ بیا زه ورڅخه ولاړم، په مجاهدینو ته الله تعالی د نویو فتحو لورینه وکړه، امریکا او نورو کفري نړۍ دا نشوه برداشت کولی چې په یو ځای کې دې د الله تعالی شریعت پلي شي نو یې په خراسان خپلې کرایي ملیشې ټالب مرتدین را واچول، ټالب مرتدینو اشر وکړ او د هر ځای څخه یې چرسیان، بنگیان، سرې او شنې قطعې را غونډې کړې، فکر یې کاوه چې د امریکا له خوا د ورسپارل شوي ماموریت په بناء به د اسلامي خلافت مجاهدین نیست او نابود کړي، خو ټالب مرتدین پدې نه وو خبر چې د سپین غر په څوکو کې د اسلامي خلافت غیرتي شازلمیان د دوی وینو ته تږي ناست دي، که څه هم ټالب مرتدینو سره د امریکایې الوتکو ملاتړ مل وو، خو سره ددې بیا هم د لوی الله په خاص فضل سره ټالب مرتدین داسې په تېښته شول، چې په لسگونو مردارې یې په غرونو کې د ځناورو خوراک شوې، او ډیر ورڅخه د خلافت زمریانو ته ژوندي په لاس ورغله، په لسگونو میله وسلې او د شپې دوربینونه هم الله عزوجل مجاهدینو ته ورکړل، ټالب مرتدینو چې کوم فکر کاوه الله عزوجل د هغوی زړونه وچول او مجاهدینو ته یې نورې ساحې هم فتحه کړې، پدغه وخت کې امریکا ټالب مرتدینو ته په وسپارل شوي ماموریت کې ناکامیدو باندې د ټالب مرتدینو څخه خفه شوه او مذاکرات یې لغوه کړل، ټالب مرتدین بیا امریکا ته تیت سرونه ورغلل او زارۍ یې ورته وکړې، څه موده وروسته امریکا پخپله په یوه کوچنۍ ساحه څو ورځې پرلپسې د عملیاتو په بهانه پدغه ساحه عمومي بمبار وکړ، ډیرې زنانه او ماشومان یې په سنایپر وویشتل، جوماتونه یې شهیدان کړل، او دغه ساحه یې ټوله ویجاړه کړه، پدغه وخت کې هم مجاهدینو په امریکایانو او ورسره مرتدینو داسې تندریز گوزارونه وکړل چې په نتیجه کې یې د الله تعالی په مرسته ډیر مرداران ورڅخه وشول او په تېښته بریالي شول، څه موده وروسته بیا ټالب مرتدینو په داسې شکل حمله وکړه

چې ځلور ویشت ساعته به ورسره د امریکایي الوتکو ملاتړ وو، دوی به ښه ازاد ګرځېدل را ګرځېدل، خو د اسلامي خلافت مجاهدین به چې هر ځای کې ښکاره شول نو کروز، ډرون او هر ډول بمبار به ورباندې کېده، د عمر ګل تقبله الله ورور یحیی هم ټالب مرتدینو سره مخامخ جنګ کې شهید شو الله تعالی دې قبول کړي، ټالب مرتدین به په سنګر پداسې حال کې ور وختل چې اول به ورته امریکایي الوتکو توله ساحه بمبار کړله، بیا به ورله امریکایانو ښه ترصد وکړ، چې پدې به یقیني شول چې مخه کې څوک نشته نو بیا به ټالب مرتدین سنګرونو ته پداسې حال کې وروختل چې د اسلامي خلافت مجاهدین به د کفارو په هوایي بریدونو کې ټوټه ټوټه شوي وو.

د اسلامي خلافت میرنیو شازلمو هېڅکله سنګرونه نه پرېښودل تردې چې امریکا به پرې بمبار وکړ او په هماغه سنګرونو کې به شهیدان شول بیا یې ټالب مرتدینو ته ویل چې سنګر خالي دی ور پورته شئ.

پدغه جنګونو کې هم د الله تعالی په مرسته د ټالب مرتدینو څخه ډیري مرداري وشوې او ډیر ورڅخه ژوندي مجاهدینو ته په لاس ورغلل.

ټالب مرتدینو په یو ډیر لوړ ځای باندې یوه پوسته جوړه کړې وه د هغې لپاره د اسلامي خلافت مجاهدینو د تعرض پروګرام جوړ کړ نو زه هم د دغه تعرض لپاره مجاهدینو سره تلم، د کور څخه چې وتلم نو عمر ګل تقبله الله ولیدم، غږ یې راباندې وکړ ویل چېرته روان یې ما ورته ویل یو ځای کې مې کار دی ویل داسې روان یې لکه چېرته تعرض ته چې ځې، ما هم ورته د هو سر وخوځاوه، نو ویې خندل ویل د الله بنده ما ته دې ولې ونه ویل زه هم درسره ځم، ما ورته ویل وروره کسان شته تا ته ضرورت نشته ته مه ځه، ویل نا زه درسره خامخا ځم ان شاءالله، ویل لاړ نشې که لاړې درنه خفه کېږم ته لږ دلته انتظار وکړه زه راوځم، هغه کور ته ننوت زه ورته د څیرې لاندې کېناستم، ماذیګر ته وخت نږدې وو غږ مې ورته وکړ مال ناوخته کېږي زه درنه لاړم، په منډه راووت ویل ریښتیا لاړ نشې اودرېږه لږ خوراکي شیان ځان سره در اخلم، راووت او دواړه روان شولو، کله چې هغه ځای ته ورسېدو کوم ځای چې راته ښودل شوی وو، فضا داسې خرابه شوه، ډرونونو ببخي بد حال جوړ کړ، خو الله تعالی لږه لږه وریځ راوستله، مجاهدینو د ټالب مرتدینو په لور حرکت وکړ، که څه هم غر ډیر سخت و، خو عمر ګل تقبله الله به راسره د سامان په وړلو کې مرسته کوله، په ځنګل کې روان وو چې شاته مو وکتل ایغور والا مجاهدین په تېزۍ سره زمونږ طرفته راروان دي، یو نفر ته مو چې وکتل هغه سره پکې ټاپ هم نشته او یو کلاشنکوف ورسره ده، عمر ګل تقبله الله ورته وویل وه ورونو پورته ځنګل کې هوا ډیره یخه ده او تاسې خو یو د ځان ګرمولو لپاره څه نه لرئ، نه درسره څادرونه شته او نه مو جامپرونه شته، هغوی ویل پروا نکوي اجر دی ان شاء الله، هغه کس چې ټاپ یې نه درلوده د هغه یو بنیان په غاړه دی او ځان سره یې پلاستیک را اخیستی دی، عمر ګل تقبله الله موسکی شو او ویې ویل اوس ان شاءالله الله تعالی مدد کوي، ته وګوره دومره کمزوري د بدن په لحاظ د اسلحو په لحاظ هېڅ نلري او د الله تعالی د دین د دفاع لپاره روان دي الله تعالی به خامخا مدد کوي، دا چې وریځ وه خو بیا هم ډرونونه نه تلل، مجاهدین د پوستې په لور روان وو چې په لاره کې ماین چاودنه وکړه، او ټول مجاهدین ورڅخه الله تعالی بچ کړل، یو مجاهد داسې سر سري زخمي شو چې هغه هم خپله روان وو، د ماین د چاودنې څخه وروسته ډرونونو داسې حال جوړ

کړ چې مجاهدینو هېڅ حرکت نشو کولی، عمر گل تقبله الله وویل تاسې وگورئ دې مشرکینو به خبر ورکړی وي نو ځکه یې ډرونونو گرځېدل زیات کړل، امیر صاحب وویل چې ډرونونه راڅخه مجاهدین خرابوي، بېرته واپسي کوو خو یو ځای به نه ځئ بیل بیل لاړ شئ، مونږ د ماذیگر د لمانځه څخه وروسته د پوستې په لور حرکت کړی و او د شپې تقریباً دولس بجې وې چې واپسې مو وکړه، دا چې تیاره زیاته وه ما او عمر گل تقبله الله لاره غلطه کړه، چې گورو یو بل ازبک ملگري هم لاره غلطه کړېده او پروت دی، درې واړو دا مشوره وکړه چې همدلته پاتې کېږو، سهار ته وخت کم پاتې دی او ډرونونه هم زیات دي نو چې رڼا شي لاره به معلومه شي بیا به لاړ شو ان شآءالله، سهار لمونځونه مو وکړل، د ډورنونو غړونه نور هم زیات شول، ازبک ملگري ویل رڼا ده او لاره ښکاري زه درڅخه ځم مونږ ورته ویل لاړ شه خو په ډېر احتیاط، عمر گل تقبله الله زما څخه زما خړ څادر واخیست او څملاست او سمدستي ویده شو، ما د ونې بېخ ته تکیه وهلې وه او انتظار مې کاوه چې ډرونونه لږ او یا کم شي نو عمر گل به راپاڅوم او حرکت به وکړو، رڼا شوه ډرون هم ښکارېده د اندازې څخه داسې معلومېده چې څوک یې هدف کړی او گوزار به کوي، نو زه د ونې بېخ ته نور هم ښکته شوم پدې کې یو غرز شو، ما فکر وکړ چې عمر گل تقبله الله یې وویشته، هغه راکېناسته او په ما یې غږ وکړ، ما ورته کړه مال خوځېږه مه هغه ازبک ملگری چې زمونږ څخه ولاړ په هغه لکه چې برید وشو، د وینو بوی او گردونه په مونږ راغلل، غړونه مو تر غوږو شول چې زمونږ نومونه اخلي، عمر گل تقبله الله وویل هغه ملگری لکه چې زخمي دی او مونږ ته چغې وهي زه ورځم ما ورته ویل دواړه ورځو، چې څنگه د خپل ځایونو څخه پورته شولو هغه ازبک ملگری رامنډې وهي، ویل الحمدلله تاسو بچ یې ما فکر وکړ چې په تاسو یې هم گوزار (برید) وکړ، عمر گل تقبله الله ورته وویل مونږ سره ستا غم وو، دا یې په چا وکړ، ازبک ملگري ویل په بل ملگري شوی دی، عمر گل تقبله الله ورته وویل تا ولیده زخمي وو که شهید شوی دی هغه ویل شهید شوی، بیا عمر گل تقبله الله ویل چې صبر کوو چې ډرونونه لږ کم شي بیا به ځو، وروسته د دوه ساعتونو څخه ډرونونه لږ کم شول، شهید نورو ملگرو پورته کړی او دفن کړی و، مونږ لاړو..

کله چې د خراسان ولایت سقوط وکړ نو عمر گل تقبله الله په ښار کې د ښاري شازلمو سره خپل د جهاد سنگر گرم وساته او د اسلامي نظام مخالفینو په مقابل کې به یې ډیر پلانونه جوړول، یوه ورځ یې راته ویل ځان تیار ساته په یو ښار کې یو ښایسته کار دی، ډیر لوی کار دی او ډیر اجر هم پکې دی ان شاء الله، د اوس نه یې درته نه وایم کله چې وخت رانږدې شو بیا یې درته وایم ډیر خوندور کار دی، تا هم له ځان سره بیا بوځم، لږ وخت وروسته په مونږ امتحان راغی او مونږ زندان ته لاړو هلته خبر شو چې ښاري شازلمو د الله عزوجل په مدد د ننگرهار زندان مات کړی او ټول بندیان یې ورڅخه ازاد کړي دي، بیا عمر گل تقبله الله په یو ځای کې اوسېده چې د مرتدینو ځانگړو ځواکونو پرې چاپه وهلې وه، عمر گل تقبله الله او ورسره ملگرو یې د مرتدینو سره څو ساعته جگړه کړې وه، چې د الله تعالی په فضل په لسگونو مرداري یې ورڅخه کړي وې، او مرتدین د ډیر ډار او هیبت په وجه د ښار په منځ کې په عمر گل تقبله الله باندې هوایي برید کړی و، عمر گل د ډیرې جگړې وروسته د دې فاني دنیا څخه سترگې پټې کړې وې، انا لله وانا الیه راجعون.

لبیک یا اقصی
مؤسسة العزائم
يې وړاندې کوي